د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د پکتیا پوهنتون

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

اداري او ډیپلوماسي څانګه

# د بریکس(برازیل،روسیه،انډیا،چین،جنوبي افریقا)اتحاد پیژندنه

**The Introduction of BRICS(Brazil,Russia,India,China,southAfrica)**

(د لېسانس دوري پایلیک)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: خلیل احمد قریشي

لارښود استاد: پوهنیار عبدالمتین جلیلي

کال..................................................................................۱۴۰۱/۸/۳ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

په اول قدم کې د ژوند یوه لویه هستی ګرانې مورجانې ته چې نهایة ډیر تکلیفونه یې راسره ګاللی دي

ورپسې ټولو دوستانو ته چې همیشه یې زما ملاتړ کړی دی همدارنګه ټولو ګرانو استادانو ته چې په کمو امکاناتو یې زموږ تعلیمی سطحه لوړه کړي ده

خلیل احمد (قریشی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننليک

ترټولو د مخه په خورا عاجزۍ د کائناتو د سترښتن د فضل او کرم شکر أدا کوم چې هغه (جل جلاله) نه یوازې ددې لیکنې د بشپړولو توفیق راکړو، بلکې زما د ژوند د پیل څخه تردې دمه چې دانعامونو ځانګړتیاوې اوهوساینې مې په برخه شوې یواځې د حقیقي څښتن تعالی محض فضل او احساندی، چې پرما عاجز یې کړی دی ، په دې هیله  چې پاتې ژوند د الله (جل جلاله)  په توفیق سره د هغه په اطاعت او د والدینو د خدمت ترڅنګ د ټولنې په خدمت کې تیر کړم.

دالله (جل جلاله)  د حمد او ثناء څخه وروسته د هغه (جل جلاله) د غوره استازي او د هغه صلی الله علیه وسلم په اصحابو چې د سرونو په نذرانه کولو یې اسلام زمونږ تر ټاټوبي رارسولی دی، درود وایم .

همداراز  د پکتیا پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو دپوهنځی  جیدو او تکړه استادانو او په ځانګړي توګه د لارښود استاد پوهنیار عبدالمتین جلیلي څخه ډیره مننه کوم او کور ودانی ورته وایم، چې د ډیرو مصروفیتونو سره سره یې بیا هم زه هڅولی یم ، او د موضوع په لیکنه کې یې په رښتیني توګه  زما سره انتهایي مرسته کړې چې په پایله  کې ورته د ذوالجلال رب څخه د دواړو جهانونو خوښي او نیکمرغي  غواړم.

**په درنښت**

**خلیل احمد (قریشی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډیز

بریکس (B R I C S) یو اقتصادی او سیاسی اتحاد دی، د بریکس نوم ( برازیل، روسیه، چین ،هندوستان،سویلی افریقا) عضوه هېوادونو له لومړي حروف څخه تشکیل شوی دی،۲۰۰۹-۶-۱۶ تاریخ په روسیه کې یې د بنسټ ډېره کېښودل شو، وروستي غونډه یې په انلاین ډول د چین په کوربتوب (۲۰۲۲-۶-۲۳ ) تاریخ ترسره شوه

بریکس اتحاد د نړۍ د داسې پیاوړو اقتصادي هېوادونو اتحاد دی چې لیری نه ده پر نړۍ به یې راج وچلیږي، بریکس په خپل ۱۴ کلن عمرکې د غړو هېوادونو ترمنځ پر همکاریو برسیره یو بانک ( نوي پراختیا بانک) هم ایجاد کړو،چې په لومړیو کې ۱۰۰ میلیارده سهمیه درلوده.

بریکس اتحاد کوشش کوي،چې پرغرب اتکاء کمه کړي،ترڅنګ یې بریکس په دی هڅه کې ده، چې په( IMF) (WB) هم ترخپله وسه تکیه کمه کړې.

د بریکس (B R I C S) عضوه هېوادونو داخلي همکارۍ او په نړیوالو قضایاو کې د یو بل ملاتړ د دی سبب کیدای شي چې راتلونکې کې په لویو قضایاو کې لا خپل رول محکم او ډیر کړي،د بریکس داخلي ثبات هغه وخت لا ډیر ولیدل شو،کله چې د ملګروملتونو په عمومي اسمبلۍ کې د امریکایی او اروپایی استازو د کوششونو سره سره د بریکس عضوه هېوادونو د روسیې پر ضد له رایی کارولو څخه ډډه وکړه.

بریکس اتحاد د اهمیت ترڅنګ یو شمیر اهداف هم لري،د امنت شورا په دایمی غړو کې تغیر،د غرب پر وړاندې مبارېزه،سیمه اییز پرمختګ،د طبعی پېښو د رامنځته کیدو په صورت کې د بشري مرستو رسول.

د نړۍ ځیني هېوادونه په دي لټه کې دي له بریکس سره یوځای شي،ایران،ارجنټاین،الجزایر، مصر، سعودي عربستان.... د هغوهېوادونو له جملې څخه دي چې د بریکس له مشرانو څخه غواړي تر څو په بریکس کې غړیتوب ورکړي،پوښتنه دا ده چې ولې هېوادونه غواړي چې د غرب پرځای له بریکس سره رابطه ټینګه کړي،یا حد اقل د امریکا سره روابطو ته پري صدمه ورسوي،بریکس هغه ځانګړنې چې لري یې د غرب سره نشته لکه اقتصادي،سیاسي،نظامي،ټکنالوجي،ځانکړونو سره سره په ارزانه بیعه تولید،د نړۍ په سطحه د انژری/نفتو او خامو موادو پریانه شتون،په ډیر شمیر کې فني او تخصوصي افرادو شتون... هغه لاملونه دي چې د بریکس ارزښت یې لا ډیر کړې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


عنوان	مخ

سـریـزه ........................................................................................................ ۱

## لومړی څپرکی

## نړیوالو سازمانونو په هکله عمومیات

لومړی مبحث: د نړیوالو سازمانونو د جوړېدو تاريخي شاليد ........................................................ ۲

دويم مبحث: د نړیوالو سازمانونو تعريف او مفهوم ........................................................ ٤

درېيم مبحث: د نړیوالو سازمانونو موخې ........................................................ ٦

لومړی جز: د نړیوالو سازمانونو عامې موخې ........................................................ ٦

څلورم مبحث: د نړیوالو سازمانونو اهميت ........................................................ ٦

پنځم مبحث: د نړیوالو سامانونو گټې ........................................................ ۷

شپږم مبحث: د اسلام مبارک دين او نړیوال سازمانونه ........................................................ ۸

لومړی جز: د قران کريم عام خطاب ټول بشريت ته ........................................................ ۹

درېيم: د نړۍ سرتو سياسي مشرانو ته د پيغمرب عليه السلام خطونه ........................................................ ۱۰

اووم مبحث: د نړیوالو سازمانونو ځانگړتياوې ........................................................ ۱۰

لومړی: استقلال او ازادي ........................................................ ۱۰

دويم: د يو مستقل نړیوال حقوقي شخصيت درلودل ........................................................ ۱۱

درېيم: د دوام خاصيت ........................................................ ۱۱

اتم مبحث: د نړیوالو سازمانونو طبقه بندي ........................................................ ۱۱

لومړی جز: د موضوع له حيثه طبقه بندي ........................................................ ۱۲

دويم جز: د صلاحيتونو له حيثه د سازمانونو طبقه بندي ........................................................ ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم جز: د غړو د نوعیت له حیثه د سازمانونو طبقه بندي...................................................۱۳
څلورم جز: د جغرافیوي قلمرو په اساس طبقه بندي ...................................................................۱٤

**دوهم څپرکی**

**د بریکس هر اړخیزه پیژندنه**

لومړی مبحث:د بریکس تاریخي مخینه ...........................................................................۱٦
دوهم مبحث: د بریکس ناستې ....................................................................................۱۷
دریم مبحث: دبریکس سره د جنوبی افریقا یوځای کیدل ........................................................۱۹
څلورم مبحث:د بریکس فعالیتونه او لاسته راوړنې ..........................................................۱۹
دوهم جز د بریکس لاسته راوړنې ..................................................................................۲۰
څلورم مبحث: بریکس اهداف ......................................................................................۲۱
پنځم مبحث:په بریکس کې د عضوه هېوادونو اهداف..........................................................۲۲
لومړی جز روسیه او بریکس .......................................................................................۲۲
دوهم جز برازیل او بریکس .........................................................................................۲۳
دریم جزهندوستان او بریکس.......................................................................................۲۳
څلورم جز چین او بریکس .........................................................................................۲٤
پنځم جز جنوبي افریقا او بریکس.................................................................................۲٤

**دریم څپرکی**

**بریکس او نړۍ**

لومړي مبحث:د بریکس اهمیت ...................................................................................۲۵
دویم مبحث: بریکس اوس ولي دومره مهم ده ؟...................................................................۲٦
دریم مبحث:بریکس او پر واړندې یې خنډونه ..................................................................۲۷
څلورم مبحث: بریکس او د اوکراین جګړه .......................................................................۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم مبحث: بریکس او نوي غړي ................................................ ۲۹

لومړي جز: بریکس او ایران ................................................ ۳۱

دوهم جز: ارجنټاین او بریکس ................................................ ۳۱

دریم جز: څومره هېوادونه غواړي چې په بریکس کې غړیتوب واخلي ................................ ۳۱

پایله ................................................ ۳۲

وړاندیزونه ................................................ ۳٤

اخځلیکونه ................................................ ۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمد الله وحده والصلوة والسلام علی من النبی بعده اما بعد: فاعوذ با الله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: قال الله تبارک وتعالی: (( واعتصموا بحبل الله جمیعا ولا تفرقو...)). [آل عمران آیه۱۰۳ ]و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: (( عن ابی موسی رضی الله عنه، عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا)). [رواه البخاري و مسلم ]دا چې نن ورځ په نړۍ کې زیات شمیر هېوادونه وجود لري، نو هېڅ یو هېو اد د قلمرو په داخل کې ایسار ندي پاتي شوي، بلکې مجبور دي چې د پرمختګ او خپلو مقاصدو او ګټو د لاسته راوړلو لپاره له نورو هېوادونو سره اړیکې ټینګي کړي. نو هېوادونو دا اړینه وګڼله چې په نړیواله سطحه داسې ارګان یا سازمان رامنځته کړي، چې تر څو وکولای شي چې خپلې موخې ترلاسه کړي. نو ددې سازمانونو په رامنځته کېدو سره (برازیل،روسیه،هندوستان،چین،او جنوبي افریقا)هېوادونو هم دا مهمه وبلله،چې په خپل منځ کې یو اتحاد یا اتیلاف رامنځته کړي،تر څو لا د پرمختګ په ردیف کې ځای اشغال کړي،د بریکس ډله یا اتحاد چې په نړیواله سطحه د پیاوړو اقتصادي ځواکونو یو قطب تشکیلوي،د پراخو انساني،فزیکي،فني او تخصوصي منابعو په لرلو سره په نړیوال اقتصادي ډګر کې تر نورو هېوادونو یو قدم وړاندې دي.

د بریکس (B R I C S) عضوه هېوادونو داخلي همکارې او په نړیوالو قضایاو کې د یو بل ملاتړ د دی سبب کېدای شي چې راتلونکې کې په لویو قضایاو کې لا خپل رول محکم او ډېر کړي.

دغه منوګراف چې دري فصلونه لري،په لومړي فصل کې مې د سازمانونو په رابطه عمومیات راخستي دي،په دوهم فصل کې مي پر تاریخي سیر،اهدافو،فعالیتونوبحث کړي دی.

په دریم فصل کې د بریکس په اهمیت،د نویو غړیو پر جذب ،وړاندېزونو،او پایله مشتمیل ده، د منابعو د استفادې په رابطه دا وایم چې په پښتو ژبه د معلوماتو نه شتون شخص مجبوره کړي چې د انګلسې او فارسي څخه استاده وکړي.

د انټرنیټي په منابعو د استعمال سره مې ډېر کوشش وکړو،چې معتبر سایټونو څخه ګټه واخلم او تر ډېره په خپل پلان کې کامیابه شوي هم یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## نړیوالو سازمانونو په هکله عمومیات

لکه څرنګه چې پوهېږو، په ننی عرصې او متمدنه نړۍ کې زیات شمېر هېوادونه وجود لري او اکرثه یې ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې دي، خو که چېرته نوموړو هېوادونو ته وګورو هېڅ یو هېواد به داسې پیدا نه کړو، چې هغه دې د خپل قلمرو په داخل کې ایسار پاتې شوی وي او بیا دې پرمختګ کړي وي، بلکې د پرمختګ لپاره مجبور شوی، چې د خپل هېواد له دایرې څخه بیرون ته ووځي او له نورو هېوادونو سره په مختلفو برخو کې د مختلفو مقاصدو او ګټو دلاسته راوړلو لپاره خپلې اړیکې قایمې کړي، چې دغه اړیکې کله د دوه، درې او کله هم د زیاتو هېوادونو ترمنځ وي او هر کله چې د څو هېوادونو ترمنځ د مشترکو ګټو او مقاصدو ترلاسه کولو لپاره روابط پیدا کېږي، نو ددې لپاره چې دغې ګټې او مقاصد په ښه ډول سره لاسته راوړل شي، او السته راوړل یې جواز پیدا کړي او د نوموړو مقاصدو د لاستهٔ ددې ضرورت پیدا کېږي، چې راوړلو په صورت کې یو له بل څخه زیانمن نه شي، نو باېد د نوموړو هېوادونو ترمنځ یوه منظمه اداره یه سازمان موجود وي.

## لومړی مبحث: د نړیوالو سازمانونو د جو ړ ېدو تاریخي شالید

د نړیوالو سازمانونو په رابطه په سلونو کلونو پخوا هم دا نظریات او خیالات موجود وو، چې د هغه وخت د اقتصادي او ټولنیزو حالاتو ته په کتو سره منځته راتلل یعنې هغه وخت کې هم خلک د امن غوښتو نکي وو او پدې لټه کې ول. چې باید داسې یو طاقت رامنځته شي چې امن او سوله راولي او داسې څېړونکي هم موجود وو،چې د هغو پر اند تر څو چې د نړۍ قومونه سره متحد نه شي تر هغې پورې امن راتلل ناشونی دی. د هغوی په نظر ټوله نړۍ باید د یو حکومت تابعداري وکړي؛ خو دغه کار ناممکن وو، خو له بله پلوه دا هم ضروري وه، چې د نړۍ قومونه د یو منظم سازمان لاندې راشي او دا د نړۍ د قومونو غوښتنه هم وه، چې ټول سره یو ځای د یوې نړیوالې ادارې بنیاد کېږي تر څو نړیوالې ستونزې حل کړای شي، خو له بل طرفه که وګورو نو د جنګ او جګړې له امله نړیوالو ته ډېر زیات ځاني او مالي تاوانونه او خسارات ور واوښتل؛ نو نړیوال په دې فکر کې شول چې باید دا اختالافات د سولې له لارې حل او فصل شي، د جنګونو او جګړو مخنیوی وکړي ترڅو ارام او هوسا ژوند ته لاره برابره کړي نو همغه وو،چې علماء او حقوقپوهان د یو نړیوال سازمان د رامنځته کېدو په فکر کر کې شول، چې لدې جملې څخه یې د ځینو علماوو نظریات په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)**ویلیام پن** :(۱۶۳۳-۱۷۱۸)م کال پورې ژوند درلود، نوموړي د انګلستان د کویکر د فرقې مذهبي غړی و، هغه په دې عقیده وو چې کله د دولتونو ترمنځ اختلافات رامنځته کېږي له دې اختلافاتو د حل او فصل لپاره باید داسې یوه مرجع موجوده وي، چې د دوی ترمنځ د سولې او منځګړتوب پوره او تام اختیارات ولري، چې ددې کار لپاره باید ټول دولتونه سره متحد شي او په متجاوز هېواد باید هغه تاوان ومني او وریې کړي.

(۲)**ژان ژاک روسو**: چې د (۱۷۱۲- ۱۸۰۴)م کال پورې یې ژوند درلود په (۱۹۷۲)م کال کې یې یو پیشنهاد وړاندې کړ، چې باید یو نړیوال فیدراسیون؛ تشکیل شي ترڅو د جنګ او جګړو مخه ونیسي او د نړیوالو اختلافاتو په حل او فصل کې مرسته وکړي. (بصیرت ۱۳۹۹ه ش، مخ ۱۱-۱۰)

(۳)**امانویل کانت:** چې د (۱۷۲۴-۱۸۰۰)م کال پورې ژوند درلود، ده په خپلو ویناوو کې د دایمې سولې په هکله ویل چې (ټول ملتونه او قومونه باید سرم متحد او یو شي ترڅو سوله او امنیت رامنځته شي).

سره له دې چې د نړیوالو سازمانونو په هکله علماوو ډېر نظریات ورکړل ولې متاسفانه تر ډېره وخته یو هم عملي جنبه غوره نه کړه؛ خو څرنګه چې په نړۍ کې ډېرو اختلافاتو وجود درلوده؛ نو له بله پلوه د علماووهڅو لاهم جریان درلوده او په دې هکله یې زیات نظریات ورکړل.

خو څرنګه، چې د ۱۹ پېړۍ دویمه نیمایي تقریباً د اروپا د صلحې او ارامۍ دوره شمېرل کېږي؛ ځکه کوم جنګونه چې په دې وخت کې رامنځته شول لنډ او کوتاه وو، خو له بله پلوه په همدغه وخت کې صنعتي پرمختګ، تخنیک او نګي صنایعو هم ډېره وده کړې وه او یو خطرناک حالت رسېدلي وو، نو په همدې دلیل د صلحې لپاره فکر کولو هم ډېر قوت حاصل کړي وو، چې بالاخره د (۱۸۹۹) م کال په اخر کې تزارې روسیې ددې توان نه درلوده، چې خپله اسلحه او فوځي عسکر د فرانسې او المان په مقابل کې برابر کړي نو هماغه وو چې د لومړي ځل لپاره د لاهې د صلحې نړیوال کنفرانس چې (۲٦) هېوادونو پکې برخه درلوده په دې خاطر تشکیل شو، چې منازعات د جنګ او جګړې له لارې نه بلکې د صلحې له لارې څخه حل او فصل کړي. نو په دې اساس ۲۰ پېړۍ د سیاست په نړۍ کې د خاصې توجه وړ وه؛ ځکه دا پېړۍ د سیاستمدارانو په لیدو کتو سره پیل کېږي پدې معنی چې (دوم نیکولاس) د تزاري روسیې صدر په (۱۸۹۹) م کال کې د اروپایي دولتونو په ګډون د یو کنفرانس د جوړېدو غوښتنه وکړه، چې نوموړی کنفرانس د هاګ (لاهې)په ښار کې جوړ او په لاندې موضوعاتو یې فیصلې صادرې کړې

(۱)نړیوال اختلافات باید د سولې او امن له لارې حل او فصل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲)په ځمکنۍ جګړو کې به د بشري حقوقو د قواعدو او نورمونونو راعایت کېږي[۱].

هغه صداقت چې پدې کنفرانس کې د ګډون کوونکو په احساساتو کې لیدل کېده هغه د دوی صداقت او سولې پلوي وه، چې نړیوال اعتماد یې ترلاسه کړی وو، همدا دلیل وو چې نوموړي کنفرانس زیات بری ترلاسه کړ، له دې نه وروسته فرانسې او چین هم د نړیوالې سولې او امنیت د غونډې د جوړېدو وړاندیز وکړ او وریسې امریکا په (۱۹۰۴)م کال کې د یو نوي کنفرانس د جوړېدو غوښتنه وکړه؛ مګر متاسفانه چې د روس او جاپان جګړو د پورته غوښتنو عملي کول له ځنډ سره مخ کړل، خو(۱۹۰۷)م کال کې د لاهې د صلحې دویم کنفرانس چې تزاري روسیې په غوښتنه جې تقریباً (۴۰)هېوادونو پکې ګډون کړی وو، چې زیاتره یې غیر اروپایي هېوادونه وو، د کنفرانس ګډون کوونکو دولتونو(۱۳) عهد نامې لاسلیک کړې

د لاهې د صلحې د کنفرانسونو نتایج دومره ښه نه وو، مګر بیا هم ویلی شو چې د صلحې غوښتنې ارمان یې له ځان سره درلود، او د لومړي ځل لپاره یې د نظامي سلاحګانو کنترول او د ورانوونکو اتومي سلاحګانو د مسابقې د مخنیوي موضوع یې د نړیوالو افکارو په وړاندې په سیاسي مستوی مطرح کړه او بل هغه څه چې پدې کنفرانس کې په حقوقي برخه کې لاسته راوړل شول هغه په ځمکنۍ جګړو کې د بشري حقوقو قواعدو ته د احترام مسئله وه،چې جګړه مار دولتونه یې هغې ته متوجه کړل اما ددې دومره هلو ځلو سره سره نړیوال پدې ونه توانیدل چې د لومړي نړیوال جنګ مخه ونیسي؛ خو د لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د سولې او ارامۍ لپاره بله پروسه شروع شوه، چې هغه د جامعه ملل د سازمان تشکیل وو. نوموړی سازمان په (۱۹۲۰)م کال د جنورۍ په لسمه نېټه تصویب لازم الاجر او پرانستل شواو د جامع ملل یا د ملتونو ټولنې په نوم یې د سویس په مرکز ژنیو ښار کې یې خپل فعالیتونه پیل کړل.چې ټولټال (۶۳) هېوادونو پکې په دایمې ډول عضویت اخېستی وو. نوموړی سازمان په نړۍ کې په نړیواله سطحه لومړنی سازمان وو چې رامنځته شو چې منظم تشکیلات او ارګانونه یې درلودل .نوموړی سازمان د ځینې عواملو له امله د دویم نړیوال جنګ د شروع کیدو سره سم په (۱۹۳۹) م کال کې عملاِ سقوط او له منځه ولاړ. ( موسی زاده، ۱۳۹۱ه ش، مخ. ۴-۳

## دویم مبحث: د نړیوالو سازمانونو تعریف او مفهوم

نړیوال سازمانونه ډېر پراخ او وسیع مفهوم لري؛ خو ددې پرختیا سره سره بیا هم حقوقپوهان په دې نه دي توانیدلي، چې د نړیوالو سازمانونو لپاره داسې یو واحد تعریف پیدا کړي، چې په نړیواله کچه یو منل

[۱] د څو سیاسي واحدونو (آیالتونو یا هېوادونو) اتحاد او د واحد مرکزي دولت جوړښت د فیدارسیون پا نامه یادیږي ۲۰۲۲/۱۰/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی تعریف وي، نو پدې اساس د نړیوالو سازمانونو لپاره مختلف تعریفات شوي دي، چې په لاندې ډول د نړیوالو سازمانونو مفهوم او تعریفاتو ته اشاره کوو:

د نړیوالو سازمانونو کلیمه اصلاً له دوه کلیمو څخه ترکیب شوې ده، چې یوه یې نړیوال او بله یې سازمان ده او دغه دواړه کلیمې الندې معناوې لري:

**لومړی: نړیوال**: د نړیوال کلیمه د یوې بلې کلیمې (ملي) په مقابل کې کارول کېږي او د ملی کلیمې اطالق په ټولو هغو موضوعاتو یا قضایاوو باندې کېږي، چې د یو معلوم هېواد د سرحداتو په داخل کې وي. مثلا که ووایو چې د افغانستان ملی شور ا، ملی اقتصاد، ملی بیراغ، ملی صنایع او داسې نور دا ټول هغه څه دي،چې یوازې په داخل د افغانستان پورې اړه لري؛ ولې د نړیوال کلیمه په هغو موضوعاتو پورې اړه لري کوم چې د یو ځانګړي هېواد په سرحداتو پورې منحصر نه وي، بلکې خبره په دوو یا زیاتو هېوادونو پورې تړاو پیدا کوي. دا په دې معنی ده چې، کله یوه موضوع یا قضیه د یو دولت له قلمرو څخه د باندې د بل یا نورو دولتونو پورې هم تړاو پیدا کوي، نو دا موضوع بیا نړیواله موضوع ګڼل کېږي.

**دویم: سازمان**: د سازمان کلیمه اصلاً یوه فارسي کلیمه ده، چې د جوړښت، ساختار او تشکیلاتي بنسټ معنی ورکوي.په عمومي توګه کولی شو ووایو چې سازوانونه یو ډول حقوقي جوړښتونه یا تشکیلاتې بنسټونه دي، چې په نړیواله کچه د یو حقوقي شخصیت په توګه رامنځته کېږي او د یو شمېر حقوقو او وجایبو درلودونکي ګڼل کېږي.دا چې د نړیوال سازمان د لغوي مفهوم سره مو څه ناڅه بلدتیا پیدا کړه اوس غواړو چې په اصطلاحي توګه نړیوال سازمان ته تعریفات وکړو:

(۱) نړیوال سازمانونه عبارت د هغو ټولنو څخه دي، چې په هغه کې د مختلفو دولتونو مناینده ګان اشتراک ولري او دا ټولنې د مشخصو او دایمي اهدافو لپاره کار کوي .

(۲) نړیوال سازمانونه عبارت د هغو ارګانونو څخه دي، چې د نړیوالو معاهداتو په اساس چې هغه د دولتونو یا غیر د دولتي مراجعو له خوا لاسلیک شوي وي، د مشخصو او معینو اهدافو لپاره له یو بل سره همکاري کوي او د منظمو تشکیلاتو او خاص چارتر یا منشور لرونکي وي .د نړیوالو سازمانونو د تشکیل اساس هامغه (تاسیسونکې معاهده) ده چې د مربوطه سازمان د اساسنامې په حیث منعقده شوې ده. ( بصیرت ۱۳۹۹ه ش، مخ. ۱۴-۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېیم مبحث: د نړیوالو سازمانونو موخې

دا یوه معلومه خبره ده، چې په دنیا کې هره هڅه اوهاند د یو ټاکلي هدف او موخې د لاسته راوړلو لپاره سرته رسېږي، نو په همدې اساس نړیوال سازمانونه هم د یو زیات شمېر پراخو او هر اړخیزو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره رامنځته شوي دي. د نړیوالو سازمانونو د جوړېدو اهداف په ددو کټګوریو باندې ویشو، چې یې عام او بل یې خاص اهداف دی، چې هر یوه ته په لاندې ډول اشاره کوو.

## لومړی جز: د نړیوالو سازمانونو عامې موخې

لکه څرنګه مو چې په سزیزه کې وویل چې انسان یو ټولنز مخلوق دی او په تنهایی سره نه شي کولی چې خپل ژوند پرمخ بوځي؛ نو پدې اساس ټول انسانان یو د بل همکاري ته اړ دي، نو همدارنګه په نړیواله سطحه دولتونه هم نه شي کولی چې د نورو دولتونو څخه جدا ژوند وکړي؛ نو په دې اساس دولتونه هم د نورو هېوادونو اړیکو ته محتاج دي، تر ددې روابطو په سیوري کې یو د بل د ضرورتونو په پوره کولو کې یو بل ته سره لاس ورکړي، او ددې هدف د لاسته راوړلو لپاره هېوادونه دې ته اړ کېږي تر څو د نړیوالو سازمانونو په چوکاټ کې سره منسجم او منظم شي او په ټولو مواردو کې یوله بل سره همکاري وکړي د عمومي اهدافو په سر کې کولی شو، چې د لاندې مواردو څخه یادونه وکړو:

(۱)د نړیوال امنیت، نړیواله سوله، د جنګ او جګړې او مخدره موادو مخنیوی، د هستوي وسلو او نورو وسله والو مسابقاتو مخنیوی او د ټولو هغو مواردو مخنیوی چې نړیوال امن او سولې ته ګواښ وي، همدارنګه د هېوادونو ترمنځ د منازعاتو سوله ایز حل

(۲) په اقتصادي میدان کې د پرمختللمو هېوادونو هڅول ترڅو د درېیمې نړۍ او مخ پر ودې هېوادنو کې د صنعت، زراعت، تجارت او نورو زمینو کې سرمایه ګذاري وکړي او پدې اړه اړوند موضوعاتو ته رسیده ګي وکړي.

(۳) د خودمختارۍ د اصل پر بناء د ملتونو تر منځ د دوستانه روابطو پراختیا. ( بصیرت ، ۱۳۹۹ه ش، مخ.۱۶-۱۵)

## څلورم مبحث: د نړیوالو سازمانونو اهمیت

د تېرو مبحثونو له مطالعې څخه د نړیوالو سازمانونو د جوړېدو اهمیت په ګوته کېږي، نړیوال امنیت او سوله، د نړیوالو جنګونو، تروریزم او مخدره موادو د قاچاق مخنیوی، د درېیمې نړۍ د هېوادونو د وضعیت ښه والی، د مظلومو ملتونو حامیه او دفاع، په مختلفو مواردو کې د مختلفو هېوادونو ترمنځ د حسنه روابطو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوړونه او د منازعاتو د منځه وړل او داسې نورو نړيوالو موضوعاتو څخه د نړيوالو سازمانونو اهميت ښه په ګوته کېږي.

## پنځم مبحث: د نړيوالو سامانونو ګټې

**لومړی:** نړيوال سازمانونه د قومونو ترمنځ اړيکې ټينګوي او ټول هېوادونه سره متعهد کوي او همدارنګه د ټولو قومونو په يو ځای کولو کې مرسته کوي

**دويم:** که چېرې دوه هېوادونه په خپلو کې سره وران شي او دغه هېوادونه ونه شي کړای چې د حل لاره راوباسي نو پدې صورت کې نړيواله اداره يوه موثره او مهمه ونډه لري او د خپلو استازو په مرسته دواړو هېوادنو ترمنځ سوله کوي.

**درېيم:** د نړيوالو سازمانونو په مرسته هغه هېوادونه چې مخ په پرمختګ دي کولی شي چې د پرمختللي هېوادونو څخه تجربې ترلاسه کړي او خپل هېواد پرمختللی او مرتقي کړي.

**څلورم**:د نړيوالو سازمانونو په مرسته د هېوادونو مختلفې چارې لکه: زراعت، صنعت، دفاع، ساينس، ټکنالوژي، طب، اقتصاد او داسې نورې برخې د بهرتۍ خواته ځي.

**پنځم:** نړيواله اداره په څو اړخيزه (کثيرالاطراف) معاهدو په تشکيل او تکميل کې فعاله ونډه لري.

**شپږم**: د نړيوال سازمان په مرسته امن او تحفظ پرمخ ځي،همدارنګه د هېوادونو ترمنځ دوستانه اړيکي

پرمختګ کوي د جګړې پر ځای مذاکرات د مسايلو حل په ښه توګه راويستلي شي کوم چې د ټولې نړۍ د امن او تحفظ سبب ګرځي .

**اووم:** د نړيوالو سازمانونو په مرسته د نړۍ قومونه يوځای د مذاکراتو يو ميز ته کيني او د نړيوالو اقتصادي ستونزو د حلولو کوښښ کوي

**اتم:** د نړيوال سازمان غړي هېوادونه يو بل د زرايعو او وسايلو څخه د خپل هېواد د پرمختګ لپاره ګټه پورته کوي.

**نهم:** د سازمان غړي هېوادونه د امن او جمهوريت، فردي ازادي، د عوامو سوکالي اوترقۍ په پرمختګ کې پوره ونډه سرته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسم:** د سازمان غړي هېوادونه د ناروغیو، سیلاب، قحطي، لوږې او نورو افتونو مقابله کوي او یوځای تاوان ورکولی شي .

**یوولسم**: د نړیوال سازمان غړي هېوادونه خپل سیمه ایز سالمیت او د سیاسي استحکام په کلکولو کې مرسته کوونکي ثابتېدلی شي.

**دولسم:** نړیوال سازمان نړیوال امن ته د ورپیښو خطرونو مقابله کوي او د نړۍ قومونه سره یوځای د امن لپاره کار کوي او په ګډه ورته طرحه جوړوي. (بصیرت ، ۱۳۹۹ه ش، مخ ۱۷-۱۸)

## شپږم مبحث: د اسلام مبارک دین او نړیوال سازمانونه

د اسلام مبارک دین د ټول بشریت لپاره د سولې، ښه ژوندانه سوکالۍ او بشپړتیا تر ټولو لوی پیغام دی، د قران کریم اکثره احکامات او پیغامونه په (یاأیهاالناس) یعنې ای خلکو! پیل شوي دي، چې معنا یې ټول یا عام خلک دي او ترې معلومېږي، چې د کومې ځانګړې ډلې او فرقې لپاره نه دي؛ نو کله چې د اسلام مبارک دین پیغام د ټول بشریت لپاره؛ نو له همدې امله موږ ویلی شو، چې د اسلام مبارک دین یو نړیوال دین دی او په کومې خاصې فرقې، قوم، نژاد او ډلې پورې تړلی نه دی.د ځمکې کُره د ټولو انسانانو ګډ او مشرتک کور دی او الله تعالی په کې انسان خپل استازی او خلیفه ګرځولی دی، چې د خپلو احکاماتو په واسطه یې له بدو لارو څخه منعه کوي او ښو لارو ته یې راولي، د ځمکې پرمخ انسانان هم دا مهال په بیلابیلو هېوادونو کې سره وېشل شوي دي، خو بیا هم لکه محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث د مفهوم له مخې چې وایي ((مثل المؤمنین في توادهم و تراحمهم و تعاطفهم کمثل ِ الجسد الواحد اذ اشتکی منه عضو تداعی له سائرالجسد بالالم والحمی.))

ژباړه: د مؤمنانو مثال په محبت، رحم، شفقت او یو له بل سره په مهربانۍ کې داسې دی لکه یو جسد او کله چې په جسد کې پر یو غړي باندې درد او تکلیف وي؛ نو د هغه غړي له امله ټول وجود په درد او تبه اخته وي. په دې اساس ویلی شو، چې د اسلام مبارک دین یو نړیوال دین دی؛ نو په دې دین کې به خامخا داسې احکام شتون ولري، چې هغه د نړیوالو اړیکو او سازمانونو لپاره استناد شي، لکه قران کریم څوارلس سوه کاله د مخه له نورو قومونو او ټولنو سره د مسلمانانو د اړیکو او مناسباتو لپاره اصول او بنسټونه ټاکلي دي او محمد صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو د لومړني لارښود په توګه هغه په خپل ژوند کې کړي هم دي. او محمد صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې د خپل حیات (حکومت) په لس کلنه دوره کې له بیلابیلو دینونو له پلویانو سره هم اړیکې درلودې او ور سره یې تړونونه وکړل، چې د هغه مبارک ژوند، تړونونه او د نورو دینونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلویانو سره برخورد او چلن په اسلامي سیاست کې د نړیوالو اړیکو لپاره اساس او بنسټ تشکیلوي او ددې لپاره چې نړیوالې اړیکې قایمې شي نو د هغې لپاره د هېوادونو ترمنځ د معاهداتو، اصولو او په نوموړو معاهداتو د دواړو قومونو یا طرفینو توافق ضروري دی. همدارنگه د اسلام په مبارک دین کې پدې هکله زیات او څرگند مثالونه وجود لري، چې په لاندې توگه ورځخه په لنډ ډول یادونه کوو. ( بصیرت ، ۱۳۹۹ه ش، مخ ۲۰-۱۸)

## لومړی جز: د قران کریم عام خطاب ټول بشریت ته

قران کریم په زیاتو مواردو کې ټول انسانیت مخاطب کړی دی. مثلا پدې مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي: ((یایهاالناس انا خلقنکم من ذکر و انثی وجعلنکم شعوبا وقبایل لتعارفوا ان اکرمکم عند الله اتقکم ان الله علیم خبیر)) (الحجرات/۱۳)

ژباړه: ای خلکو! بې شکه موږ پیداکړي يئ تاسې ټول د یو سړي او یوې ښځې (آدم علیه السالم او بي بي حوا) څخه او گرځولي مې یئ تاسې شعبې او قبیلې ترڅو تاسې یو بل وپېژنئ، بې شکه په تاسې کې د عزت او کرامت څښنت هغه څوک دی چې تقوی ولري.له پورته ایت څخه معلومېږي، چې د اسلام خطاب د ټولې نړۍ انسانانو ته دی او یواځې د یو هېواد او یوې ټولنې خلکو ته متوجه نه دی او د نړۍ پرمخ د ټولو هېوادونو اوسیدونکو باندې غږ کوي ترڅو د اسلام تر چتر لاندې سره راټول شي او په پوره امن، سوله او محبت کې ژوند وکړي.( بصیرت ،۱۳۹۹ه ش، مخ. ۲۰)

**دویم جز: د پیغمبر علیه السلام معاهدات د نورو اقوامو او مذاهبو له خاوندانو سره** نبي علیه السلام په خپل ژوند کې د نورو اقوامو او مذاهبو سره د عقیدوي اختالف باوجود ځینې معاهدې منعقد کړې دي، چې دغو معاهدو به مشترک مفادات او گټې درلودلې، د مثال په ډول لکه د مدینې منورې تړون، د حدیبې د صلحې تړون چې په لاندې ډول به ورته په لنډ اشاره وکړو::

**الف: د مدینې منورې تړون**

وروسته لدې چې رسول الله صلی علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ او د نوې اسلامي ټولنې بنسټونه یې د مسلمانانو په منځ کې د عقیدوي، سیاسي، او اداري یوالي په راوستلو سره کلک کړل، نو غوره یې وگڼله چې باید د منطقې د نامسلمانو خلکو سره هم اړیکې ښې کړي. له دې ټولو هلو ځلو څخه یې هدف دا وو چې باید گرده بشري ټولنه د امن، روغې جوړې او نیکبختیو خاونده کړي، نو ځکه یې هڅه وکړه چې ټوله منطقه په یوه اداري جوړښت کې سره راونغاړي، د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره یې د روغ نیتۍ او یو بل ته د عفوې داسې په زړه پورې قوانین او اصول جوړ کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په هغو ټولنو کې چې له تعصب او زور معلومولو څخه ډکه وه تر اوسه چا نمونه هم نه وه لیدلې.

**ب: د حدیبې د صلحې تړون**

د هجرت په شپږم کال رسول الله صلی علیه وسلم وغوښتل چې عمره اداء کړي او د دې هدف په منظور د خپلو صحابه وو کرامو سره یو ځای د مکې مکرمې په لور روان شو، خو د مکې قریش یې مانع شول او هڅه یې وکړه ترڅو رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګري یې مکې مکرمې ته د ورتلو څخه منع کړي؛ مګر نبي علیه السلام د خبرو اترو وروسته په (حدیبه) نومې ځای کې د مشرکینو او مسلمانانو ترمنځ د سولې یو بل تړون لاسلیک کړ، چې د اسلام په تاریخ کې د (حدیبې صلحې) په نامه ونومول شو.

**درېیم: د نړۍ سرتو سیاسي مشرانو ته د پیغمرب علیه السلام خطونه**

ددې لپاره چې د نړۍ اوسېدونکې د سوکاله او ګډ ژوند درلودنکې شي؛ نو پیغمبر علیه السلام د نړۍ سترو پاچاهانو ته لکه د روم، فارس، حبشې او نورو مهمو سیاسي مشرانو ته خطونه ولېږل ترڅو د یو الله تعالی د عبادت او بیرغ لاندې سره راټول شي او هغه موانع او بندونه له منځه یوسي، چې د دوی ترمنځ د بیلتون سبب شوي دي. ( بصیرت ، ۱۳۹۹ه ش، مخ ۲۵-۲۱)

**اووم مبحث: د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې**

نړیوال سازمانونه د یوې خوا د عامو او ګډو ځانګړتیاوو درلودونکي دي په داسې حال کې چې هر سازمان یا څو مشابه سازمانونه بیا د خپلو ځانګړ و خصوصیاتو درلودونکي هم دي، چې دا بیا د هر یو سازمان د جداګانه مطالعې څخه جوتېږي البته د عامو او ګډو ځانګړتیاوو په لړکې لاندې مهمو خصوصیاتو ته اشاره کوو:

**لومړی: استقلال او ازادي**

نړیوال سازمانونه باید کاملا استقلال او ازادي ولري، ځکه چې نړیوال سازمانونه د دولتونو او د اجتماعګانو یوه ګډه ټولنه ده او د کومو اهدافو لپاره چې تشکیل وي د هغې اهدافو په لاسته راوړلو کې باید کاملًا ازاد وي او د هیڅ کوم دولت ترلاس لاندې باید کار ونه کړي؛ ځکه خپله سازمانونه په ځانګړي ۱ډول کوم دولت نه دی او نه هم مافوق الدولت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم: د یو مستقل نړیوال حقوقي شخصیت درلودل

پدې معنی چې نړیوال سازمانونه باید د غړیو هېوادونو د حقوقي شخصیت څخه پرته د یو نړیوال حقوقي شخصیت په توګه تبارز وکړي، چې پدې هکله دعدالت د نړیوالې محکمې مشورتي دیوان داسې صراحت لري: (سازمانونو ته نړیوال حقوقي شخصیت د غړو هېوادونو په وجه نه بلکې ددوې د اعمالو او فعالیتونو په اساس چې په نړیواله سطحه یې اجرا کوي ورکول کېږي.) معنی دا چې نړیوال سازمان د خاصو حقوقو او مکلفیتونو څخه برخورداره کېږي او کله چې نړیوال سازمان نړیوال حقوقي شخصیت ترلاسه کړ، نو په حقیقت کې یو ډول استقلالیت ترلاسه کوي او غړو دولتونو سره یې فرق پیدا کېږي.

## دریېیم: د دوام خاصیت

نړیوال سازمانونه باید د دوام خاصیت ولري پدې معنی چې نړیوال سازمان د یو موقت وخت لپاره نه؛ بلکې د دایمې اهدافو د پیل کولو په خاطر تشکیل شوي وي، چې د دوام او استمرار خاصیت ورته وایي. یعني پدې معنا چې د نړیوالو سازمانونو فعالیتونه باید دایمي او په پرله پسې ډول وي او همدارنګه غړي دولتونه هم باید په دایمي او پرله پسې ډول د اړونده سازمان د فعالیتونو په ترلاسه کولو کې هلې ځلې وکړي او همدې ټکي ته په کتو سره ډیری نړیوالو سازمانونو د خپلو فعالیتونو لپاره وخت نه دی ټاکلی.

## څلورم: د منظمو تشکیلاتو او ارګانونو درلودل

نړیوال سازمانونه باید یو منظم او منسجم اداري تشکیلات ولري؛ ځکه نن سبا موږ ګورو چې د دارنګه سازمانونو شمېر ډېر زیات دي، نو ددې لپاره چې دوی خپل امور په ښه او احسنه طریقې سره اجرا کړي وي، نو لازمه ده چې په خپلو اداري جوړښتونو کې منظم تشکیلات او اجرائیوي اورګانونه ولري. (بصیرت ، ه ش، مخ.۲۶-۲۵)

## اتم مبحث: د نړیوالو سازمانونو طبقه بندي

دا چې نن ورځ په نړۍ کې نړیوال سازمانونه ډېر زیات دي او نه شو کولی، چې نوموړي سازمانونه په داسې ډول د یوې طبقه بندۍ لاندې راولو، چې د نړۍ ټول سازمانونه په کې شامل شي. د یوې احصائیې له مخې په (۱۹۹۹)م کال په نړۍ کې(۱۴۰۰) دولتي او (۲۷۰۰) غیر دولتي سازمانونو وجود درلود او نن ورځ د نوموړو سازمانونو په تعداد کې نور هم زیاتوالی راغلی، نو پدې اساس د نړیوالو سازمانونو طبقه بندي یو مشکل کار دی او نه شو کولی، چې ټول سازمانونه په داسې علمي او جامع ډول طبقه بندي کړو، چې ټولو حقوق پوهانو او علماوو د قبول وړ وګرځي، نو ددې مشکل د حل لپاره کولی شو، چې وواېو د څو جهاتو له حیثه نړیوال سازمانونه په لاندې ډول طبقه بندي کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library




## لومړی جز: د موضوع له حیثه طبقه بندي

دا چې د نړیوالو سازمانونو د فعالیت موضوع څه شي ده؟ نو د موضوع له حیثه کولی شو چې ټول نړیوال سازمانونه په دوو برخو وویشو، چې یو یې عام نړیوال سازمانونه دي او بل یې خاص نړیوال سازمانونه دي، چې په لاندې ډول یې تعریفوو:

### الف: د عامې موضوع لرونکې نړیوال سازمانونه

هغه سازمانونو ته ویل کېږي، چې هغه په عمومي ډول د نړۍ هر اړخیز مسایل لکه جنګ او جګړه، اقتصادي مشکلات، تجارت،صحت، زراعت، مصالحه او داسې نور مسایل تر بحث لاندې نیسی یا عام نړیوال سازمانونه هغه دي، چې موضوع یې عامه وي او هم د کومو ځانګړو هېوادونو پورې محدود نه وي. لکه د ملګرو ملتونو سازمان.

### ب: خاص نړیوال سازمانونه

دا هغه سازمانونه ته ویل کېږي، چې د فعالیت ساحه یې یوه تخصصي او خانګړې موضوع وي پورې تړلې وي یا دا چې د یو معلوم هدف لپاره کار کوي، چې دغه هدف یې معین او خاص وي او په عمومي ډول د هر نوعه مسایلو طرحه ددغه سازمانونو وظیفه نه ده لکه د تیلو صادرونکو هېوادونو سازمان یا (OPEC ) چې هدف یې معلوم دی چې هغه د تیلو صادرول لو په تیلو پورې اړونده مسایل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویيم جز: د صلاحيتونو له حيثه د سازمانونو طبقه بندي

لدې حيثه سازمانونه په دوو ډولونو وېشل شوي دي، چې عبارت دې له پراخه واکونه درلودونکی او محدودو واکونو درلودونکي سازمانونه چې هر يو يې په جلا ډول مطالعه کوو :

**الف: د پراخو واکونو درلودونکي سازمانونه**

دا هغه سازمانونه دي چې د غړو په مقابل کې پراخه واکونه لري لکه اروپايي شورا .

**ب: د محدودو واکونو درلودونکي سازمانونه**

دا هغه سازمانونه دي چې د غړو په مقابل کې د کمو او محدودو صلاحيتونو درلودونکي وي لکه اسلامي کنفرانس سازمان او ملل منحد او داسې نور...

## دريم جز: د غړو د نوعيت له حيثه د سازمانونو طبقه بندي

که نړيوال ساز مانونه د غړو او بنسټ ايښودونکو له مخې طبقه بندي شي؛ نو د دغه معيار له مخې نړيويال سازمانونه په دوو دولونو وېشل شوي دي، چې عبارت دي له دولتي او غير دولتي نړيوال سازمانونه چې په لاندې ډول ورځخه يادونه کوو

**الف: دولتي نړيوال سازمانونه**

دولتي نړيوال سازمانونه عبارت له هغه سازمانونو څخه دي، چې د دولتونو لخوا د نړيوالو معاهداتو پراساس رامنځته شوي وي يا دولتي نړيوال سازمانونه هغه سازمانونه دي چې څو دولتونه د خپلو مشخصو او دايمي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د نړيوالو معاهدو په اساس دا ډول سازمانونه رامنځته کوي، چې د دا ډول سازمانونو ډېره برخه د دويم نړيوال جنگ څخه وروسته رامنځته شوي او په بيلابيلو سياسي، اقتصادي، اجتامعي او داسې نورو مختلفو برخو کې فعاليت کوي.

اولين دولتي نړيوال سازمان (چې هغه هم په کامل شکل نه وو) په (۱۸۱۵) م کال د وين د تړون پر اساس تاسيس شوی، چې ويل کېږي د سازمانونو تاريخ کې لومړنی نړيوال سازمان دی ولې په کامل شکل سره نه وو. لدې وروسته په تدريج سره نړيوال سازمانونو انکشاف وکړ او په نتيجه کې يې اوسنی شکل اختيار کړ. دولتي سازمانونه بيا په خپل وار سره په درې برخو وېشل شوي دي، چې عبارت دي له دولتي جهانشموله سازمانونه، دولتي سيمه ييز سازمانونه او دولتي بين القاروي سازمانونه چې مخکې ورځخه يادونه وشوه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: غير دولتي نړيوال سازمانونه**

غير دولتي نړيوال سازمانونه عبارت دي له هغه سازمانونو څخه، چې د خصوصي اشخاصو په واسطه د نړيوالو معاهداتو په اساس رامنځته کېږي يا غير دولتي نړيوال سازمانونه هغه سازمانونه دي، چې خصوصي افراد يې د نړيوالو معاهداتو په ترڅ کې چې په خپلو منځو کې يې ايجادوي رامنځته کېږي .همدارنگه د ملگرو ملتونو د سازمان د اقتصادي او اجتماعي شورى د قطعنامې د (۲۸۸) نمبر شمېرې له مخې غير دولتي نړيوال سازمانونه داسې تعريف شوي:

(هر هغه نړيوال سازمانونه چې د داسې معاهدو پر اساس چې په هغه کې دولتونو برخه نه وي اخيستې رامنځته شوي وي، د غير دولتي نړيوالو سازمانونو په نوم يادېږي).

دا پورتنى تعريف اگر چې ساده معلومېږي، خو د حقوقپوهانو او علماوو له انتقاد څخه خالي نه دى او هغوى وايي چې دا تعريف جامع نه دى، نو دوى غير دولتي نړيوال سازانونه داسې تعريفوي: (دا سازمانونه هغه سازمانونه دي، چې څو خصوصي افرادو په مشترک ډول پرته له هر نوعه بين الدول معاهدو په اساس تاسيس کړي وي او په هغې کې خصوصي اشخاص که حقيقي وي او که حقوقي چې د مختلفو تابعيتونو درلودونکي وي، په خپلو منځونو کې سره راټول شوي وي او په مختلفو ساحاتو کې مختلف فعاليتونه ترسره کوي، لکه د بشري همکاريو په برخه کې د سره صليب نړيواله کمېټه، په ورزشي ساحه کې د المپيک نړيواله کمېټه او داسې نور.

## څلورم جز: د جغرافيوي قلمرو په اساس طبقه بندي

د جغرافيوي قلمرو له حيثه کولى شو، چې ټول نړيوال سازمانونه په دريو برخو ووېشو چې په لاندې ډول پرې رڼا اچوو:

**الف: جهانشوله سازمانونه**

دا هغه سازمانونه دي، چې د نړۍ پرمخ ټول هېوادونه پکې غړيتوب لري يا د غړيتوب حق ولري، چې تر اوسه پور ې د نړۍ سياسي تاريخ په دوو جهانشموله سازمانونو شاهدي ورکوي، چې يو يې د جامع ملل شازمان او بل يې هم د ملگرو ملتونو سازمان دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: منطقوي یا سیمه ییز سازمانونه**

دا هغه سازمانونه دي، چې د نړۍ د یوې خاصې منطقې خصوصي اشخاص یا هېوادونه په خپلو منځو کې یو تړون وکړي او یو سازمان رامنځته کړي، یعنې دغه سازمانونه په یوه خاصه منطقه یا ساحه کې رامنځته کېږي، داسې نه ده چې د مختلفو وچو هېوادونه یا خلک دې یو ځای شي او داسې سازمان دې رامنځته کړي، بلکې دغه سازمانونه د یوې خاصې ساحې یا منطقې پورې مربوط وي لکه د جنوب ختیځې اسیا د هېوادونو سازمان سارک( SAARC )،ا یکو ( ECO) او داسې نور...

**ج: بین البراعظمي سازمانونه**

دا هغه سازمانونه دي، چې غړي یې له مختلفو وچو څخه وي، ولې د مشترک علت له وجې یې سره تړون کړي وي او یو سازمان یې رامنځته کړي وي، چې دغه مشترک علت کېدلی شي مختلف شیان وي. لکه دین، کلتور، فرهنګ او داسې نور وي. خو باید ووایو، چې دا ډول سازمانونه جهانشموله نه دي؛ بلکې د دوه درې یا څلورو قارو هېوادونه پکې ګډون کولی شي خو هر هېواد پکې ګډون نه شي کولی لکه د اسلامي هېوادونو د کنفرانس سازمان (بصرت، ۱۳۹۹ه ش ، مخ.۳۷-۴۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د بریکس هر اړخیزه پیژندنه

په دغه څپرکی کې به د بریکس په تاریخي سیر، د بریکس په ناستو،د بریکس سره د جنوبي افریقا په یوځایوالي،د بریکس فعالیتونه او لاسته راوړنو، د بریکس د اهدافو ترڅنگ د بریکس او عضوه هېوادونه په لنډ ډول واضح کړو. په دغه څپرکی کې تر ډیره د انټرنتي منابع څخه استفاده شوي ده،د بریکس په رابطه ډیرو د سیاسي چارو کار پوهانو مثبت نظرونه ورکړي دي،د پوهانو په نظر امکان لري چې بریکس ته د نوي غړو په جذب سره لا قوت پیدا کړي.

### لومړی مبحث:د بریکس تاریخي مخینه

لومړی ځل لپاره ۲۰۰۱م کال کې د سرمایه گذاري یو نړیوال بنسټ (گلدمن ساکس ) د جهان د اقتصادي قدرت په رابطه  یوه نظره مطره کړه،ورپسی جیمز اونیل د اول ځل لپاره د بریک (B R I C) څخه په یوه اقتصادي ورځپاڼی کې یادونه وکړه . هند،چین،روسې،او برازیل د اقتصاد چټکې ودې پر نړیوال اقتصاد باندې یې اغیز پوښتنې راولاړی کړې، ۲۰۰٦ م کال کې د ملگرو ملتونو د(٦۱ ) مجموعې په څنډو کې د دغو هېوادو د بهرنیو چارو وزرانو د یو بل سره غیری لیدنې ترسره کړې، وروسته له دی غونډې څخه د بریک مشرانو د دغه اتحاد د لا قوت لپاره څلور نوری رسمي لیدنې (یکاترینبورگ روسیه،ساپوپایولو،جاپان، او لندن) کې ترسره کړې.

بیلاخیره ۲۰۰۹جون ۱٦ م کال اوله رسمي جلسه د روسي یکاترینبورگ ښار کې ترسره شوه . ۲۰۱۱ م کال کې ورسره جنوبی افریقا هم یوځای شوه چې له دی سره یې نوم له بریک څخه بریکس ته تغیر شو.[۲]




(۱) دغړو هیوادونو ده نومونو دسر حروف او پکې د اړونده هیواد بیرغ

[۲] ۱https://infobrics.org۲۰۲۲/۱۰/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم مبحث: د بریکس ناستې

د بریکس د ایجاد څخه تر اوسه په کلنی ډول هر کال غونډه لري،البته دا غونډې کله په حضوري ډول او کله په انلاین ډول ترسره شوي دي،ناستې په ترتیب سره په نوبت وار شکل سره په عضو هېوادونو کې ترسره کیږي.

اولینه غونډه ۲۰۰۹ جون په ۱٦ یکاترینبورگ کې ترسره شوه. دهند په استازیتوب منموهن سینگ، د روسي په استازیتوب دمیتری مدودف،د چین په استازیتوب هوجینتاو او برازیل په استازیتوب لویس ایناسیو لولا برخه اخستې وه.[٤،٣]

| ناستې شمره | تاریخ | کوربه هېواد | د کوربه هېواد د مشر نوم | ځای |
|---|---|---|---|---|
| ۱ ناسته | ۱٦-٦-۲۰۰۹ | روسیه | دمیتري مدودف | یکاترینبورگ |
| ۲ ناسته | ۱۵-۴-۲۰۱۰ | برازیل | لویس ایناسیو لولا | برازیلیا |
| ۳ ناسته | ۱۱-۴-۲۰۱۱ | چین | هوجینتاو | سانیا |
| ۴ ناسته | ۲۹-۳-۲۰۱۲ | هندوستان | منموهن سینگ | نوي ډیلي تاج محل |
| ۵ ناسته | ۲٦-۳-۲۰۱۳ | جنوبی افریقا | جاقوب ذما | دوربن |
| ٦ ناسته | ۷-۲۰۱۴ (۱۷-۱۴) | برازیل | ډیلما روسوپ | پورتالیزا |
| ۷ ناسته | ۷-۲۰۱۵ (۹-۸) | روسیه | ولا دیمر پوتین | یولفا کانکرس |
| ۸ ناسته | ۱۰-۲۰۱٦ (۱٦-۱۵) | هندوستان | نارینډا مودی | بینالیم |
| ۹ ناسته | (۵-۳)۹-۲۰۱۷ | چین | شی چن پنگ | شی مان (د کنفرانسونو نړیوال مرکز) |

**[۳] Russia says BRICS eye joint anti-crisis fund" (http://in.reuters.com/article/russia-brics-imf-idINDEE۸۵K۰٤C۲۰۱۲۰٦۲۱). Reuters. ۲۱ June ۲۰۱۲. Archived (https://web.archive.org/web/۲۰۱۳۰۵۱۵۰۷۵۷۲۳/htt from the original on ۱۵ May ۲۰۱۳. Retrieved ۵ December ۲۰۱۲**

**[٤] Chairmanship in ۲۰۲۰" (https://eng.brics-russia۲۰۲۰.ru/news/۲۰۲۰۰۵۲۷/۳۹۵۷۲۹/BRICS-and-the-SCOsummits-postponed.ht ml). ۵. "BRICS Summit to be held virtually on Nov ۱۷; strengthening cooperation, global stability on agenda"**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ ناسته | ۷-۲۰۱۸<br>(۲۷-۲۵) | جنوبی افریقا | کرل رامپا سا | جوهانس بورگ |
| ۱۱ ناسته | ۱۱-۲۰۱۹<br>(۱۴-۱۳) | برازیل | جایر پورسونارو | برازیلیا |
| ۱۲ ناسته | ۷-۲۰۲۰(۲۱-۲۳)<br>۱۱-۲۰۲۰(۱۷)<br>کورنا<br>ویروس /ویډیو<br>کنفراس | روسیه | ولا دیمر پوتین | سینټ پټرزبورگ |
| ۱۳ ناسته | ۹-۹-۲۰۲۱ ویډیو<br>کنفرانس | هندوستان | نارینداا مودی | نوي ډیلی |
| ۱۴ ناسته | ۲۳-٦-۲۰۲۲<br>ویډیو کنفرانس | چین | شی چن پنگ | بیجنگ |

د غونډې لومړی عکس

۲۰۰۹-٦-۱٦[٥]




(۲) په عکس کې لیدل کیري د هند له لوري من موهین سینګ د چین له لوري هو جین تاو د رورسیې په استازي توب دیمیتري مدودوف برازیل له لوري لویس لولا

د وروستي غونډې عکس

۲۰۲۲/٦/۲۳/ ویډیوکنفرانس




(۳) د روسیې په استازي توب ولادي میر پوتین د چین په استازي توب شي جیګ پینګ د هند په نمایندګي نارینداا مودي د جنوبي افریقا په نمایندګي کرل رامپا سا د برازیل په نمایندګي جایر پواسونارو

[٥] (https://infobrics.org۲۰۲۲/۱۰/۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مبحث: دبریکس سره د جنوبی افریقا یوځای کیدل

په لومړی کې څلور هېوادونه (برازیل،روسیه،هند،اوچین ) سره یوځای شول او بریک په نوم پیژندل کیدل خو د جنوبی افریقا د یو ځای کیدو سره نوم د بریک څخه بریکس ته واوښته.

جنوبی افریقا پرلپسی هڅو او کوششونو چې په بریک کې یې د عضویت د ترلاسه کولو لپاره کولې د ۲۰۱۰ م کال د اگست میاشتې په جریان کې پیل او د چین په بلنه او ملاتړ د همدی کال په ډیسمبر میاشت کې په رسمي ډول د غړو هېوادونو په رضایت د یو غړی په صفت ومنل شو،په ۲۰۱۱ م کال کې جکیب زوما د نوبی افریقا ولسمشر د جنوبی افریقا په استازیتوب چې په چین کې دایره شوي و برجه واخسته.[٦]

## څلورم مبحث:د بریکس فعالیتونه او لاسته راوړنې

**لومړی جزد بریکس فعالیتونه:** بریکس په خپل ۱۴ کلن عمر کې په عمومي ډول هر کال یوه رسمي لیدنه کړې ده،د بریکس فعالیتونه ډیر دي نسبت لاسته راوړنو ته ،دا چې ولې په دومره وخت کې پرمختگونه کم ترسره شوي دي دا به د بریکس پر وړاندې خنډونو کې تر مطالعې لاندې ونیسو.

اول هغو موضوعاتو ته اشاره کوو چې غړو هېوادونو د غونډو په جریانونو کې ور باندې بحث اوتینگار درلود. مثال په اوله جلسه کې په دغو موضوعاتو متمرکز شول.

په هغو رویشونو او تگلارو کار چې اقتصادي پرمختگ ورسره لا قوت پیدا کوي، ترڅنگ یې د نړیوال مالي نظام اصلاح چې غیری مستقیم ډول یې امریکا او IMF ته اشاره درلوده، د یادونې وړ ده چې له دی مخکې روسي هم ډالر په رابطه توندې څرگندونې درلودی. په ۲۰۱۴ کې هند لومړی وزیر نارینداا مودی په سرمشریزه کې داسې وویل «د هغه څه چې وویل شو نتیجه داده چې هیڅ هېواد نشي کولی د اقتصاد د ودي په سر کې پاته شي او په مقابل کې یې د دریمي نړی هیوادونه که وغواړي د بریا اوپرمختگ څوکو ته ځان ورسوي کولی شي مهمه داده چې له انساني او طبعي سرچینو څخه په استفادي د اقتصاد یوه نمونه جوړه شي او دا کار بریکس غړو هیوادونو سرته رسولی او له داخلي منابعو څخه په گټه اخستنې یې په سیاسي او اقتصادي برخو کې پرمختگ کړی او له نورو مخکښ شوي دي د دي نوي بلوک اقتصادي ودي اهمیت نکته داده چې دوی نه یواځې په تشخیص د منابعو کې سره برابردي بلکه ځیني خارجې سیاستونه یې هم سره یوشان دي د نړی د سیاسي مشکلاتو د حل او فصل کولو لپاره هم مبارزه کوي چې له دي ډلي د بریکس

[٦] (www.bricsindia۲۰۲۲/۱۰/۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونو ګډ هدف دی په ځانګړي ډول د سوریې تحولات یا د ایران د هسته یې برنامې په سوله ایزه طریقه په مخ وړل»[۷]

په وروستي غونډه کې چې په چین کې په مجازي شکل ترسره شوه، د بریکس هېوادونو ترمنځ متقابلې اړیکې، ګډې ګټې ،مساوات،او عدم مداخله یې مهم ټکی وو.[۸]

## دوهم جز د بریکس لاسته راوړنې

مخکې له دي چې لاسته راوړنوته ورشو ښه به وي چې د ایران د عضویت په رابطه هم لږ پوه شو د بریکس ډلې په تازه اقدام کې په وروستي غونډه کې ایران ته هم بلنه ورکړې وه چې د ایران په استازیتوب د ایران ولسمشر ابراهیم ریسي برخه اخستې و، د بریکس هېوادونه کوشش کوي چې ایران هم له ځان سره غړی کړي .

❖ د لاسته راوړنې له جملې یې اول د توصه بانک ایجاد دی

د نوي پرمختګ بانک(N-D-B) چې پخواني نوم یې د بریکس د پرمختګ بانک و ۱۵/۱/۲۰۱۴ م کال کې عضوه هېوادونو په سرمشریزه غونډه کې ایجاد او او یو کال وروسته اجرا شو په لومړی کې یې ۵۰ ملیارده ډالره بودیجه درلوده ،خو وروسته یې ۱۰۰ ملیارده ډالره ته لوړه کړه.چین ۴۱ ملیارده روسیه،هند،برازیل هریو ۱۸ ملیارده او جنوبی افریقا بیا ۵ ملیارده ډالره پیسی ومنلې ، د بانک مشرتوب هم په نوبت وار شکل دی چې اول ځل د هند په غاړه شو، مرکز یې په شانهای ښار کې دی او دری څانګې هم لري،اولینه څانګه یې په ژوهانسبورګ جنوبی افریقا کې تاسیس شوه. دوهمه څانګه یې په برازیل او دریمه څانګه یې په مسکو کې

(۴) یو شانګهای ښار کې د نوي پراختیا بانګ مرکزي دفتر




تاسیس شوه. ترڅنګ چین غواړي چې ددې شتمني یا پیسو کوربه یا ساتونکی هم واوسي. په دې غونډه د بریکس یو چارواکي وویل: دومره زیاته اندازه بسپنه په ورکولو سره چین په بریکس سازمان باندې مهم اداري

---

[۷] (https://www.bbc.com/persian/iran-features-
[۸] (https://infobrics.org ۲۰۲۲/۱۰/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلاحیت رول غواړي. د برازیل یو چارواکي وویل: برازیل او هند غواړي ابتدایي سرمایه باید په مساوي ډول شریکه شي خو چین زیاته برخه غواړي خو بیا هم موږ تراوسه د مزاکراتو په حال کې یو او کوم کړکیچ نه دی رامنځته شوی. په ۲۰۱۳ کال د روس بهرنیو چارو وزیر وویل، چې د یوې باثباته کرنسۍ لپاره به ۱۰۰ بیلیونه ډالر د ۲۰۱۴ کال په پیل کې راغونډېږي شي. د برازیل هېواد وزیر هم دغه خبره وکړه خو د پیسو راغونډول او د نوي پرمختیایي بانک کاره ونه تر ۲۰۱۵ کال پورې وځنډېدله. د بریکس هېوادونو کې د نوي پرمختیایي بانک وجود او اړتیا هغو هېوادونو ممکنه کړه چې امریکا او اروپایي اتحادیې به یې غږ نه اورېدۀ، برعکس بریکس دې هېواد ته غوږ کېښود، نړېوال حیثیت یې ورکړ او دې هېوادونو بریکس د غرب په وړاندې قوي کړ.[۹][۱۰]

### ❖ د روسې او برازیل ترمنځ ماهده

په ۲۰۱۴ کال کې د روسیې مرکزي بانک ریس وویل چې د بریکس غړي هڅه کوي یو داسې څو اړخیز مبادلي سیستم رامنځته کړي چې ټول هېوادونه به د یو او بل منابع اسانه شریکې کړی شي. په یوه مقاله کې لا زیاتوي که اوسنی حالت مداووم شي، ډالر به ډېر ژر د کلوبل مالي ترتیب څخه لرې کړل شي. د ۲۰۱۴ کال جولایي ۱۳مه FIFA World Cup پایلوبې څخه مخکې او ددې اوونۍ په جریان کې پوتین د برازیل له ولسمشرې Dilma Rousseff سره ولیدل د هوایي دفاع، ګاز او تعلیم په برخه کې یې مهم دوه اړخیزه تړونونه لاسلیک کړل. Rousseff وویل: بریکس هېوادونه له نورو نه په نړۍ کې لوی دي او په دې هېڅ راضي نه دي چې په ۲۱ پېړۍ کې دې په چا تکیه ولري. دا لنډه کاته مخکې د بریکس له عمومي غونډې وشول چېرته چې د NDB لپاره تهداب کېښودل شوی و.

### ❖ د مخابراتو په برخه کې

د بریکس غړي هېوادونه د ۲۰۱۲ م کال راپدیخوا د بریکس هېوادونو ترمېنځ د فایبر نوري تار غځولو هڅې کوي ترڅو یو خپلواک مخابراتي سیستم رامنځته کړي او دی ته د بریکس تار یا BRICS Cable په نوم یادول کېږي. همدا پروژه د متحده ایالاتو امریکا د ملي امنیتي اژانس/NSA په مخابراتي سیستم باندې جاسوسۍ له وېرې رامنځته شوه.د ۲۰۱۹ کال اګست میاشت کې بریکس هېوادونو په همدې موخه تفاهم لیک لاسلیک کړ چې مالوماتي او مخابراتي تکنالوژي په برخه کې له یو او بل سره کومک وکړي. دا تفاهم لیک د بریکس هېوادونو د مالوماتي ټکنالوژۍ وزیرانو ترمنځ په برازیل هېواد کې لاسلیک شو.[۱۱]

## څلورم مبحث: بریکس اهداف

---

[۹] (https://guides.loc.gov/brics/articles-reports )

[۱۰] (www.ndb.int ۲۰۲۲/۱۰/۱۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بریکس یو شمیر اهداف لري چې په شکل به ذکر کړو.

- ✓ پر امریکا او اروپا د اتکا کمیدل.
- ✓ د عضوه هېوادونو ترمنځ په تجارتی او بانکی برخه د همکاریو زاتوالي.
- ✓ د غربی بلاک پروړاندې قوت.
- ✓ د ملګرو ملتونو د رول اصلاح.
- ✓ د امت شورا د دایمی غړو تغیر.
- ✓ د نړیوال نظم تغیر او عادلانه کول.
- ✓ سیمه ایز پرمختګ ترلاسه کول.
- ✓ د اقتصادي مارکیټونو غوره نمایندګی کول.
- ✓ طبعی ناورینونوپه صورت کې بشري مرستې رسول.
- ✓ د هوا د ککړتیا مخه نیول.
- ✓ په اغیزمنه توګه د منابعو څخه استفاده کول.
- ✓ څو اړخیزو اقتصادی سیستمونو ایجاد.[۱۱]

## پنځم مبحث:په بریکس کې د عضوه هېوادونو اهداف

د نوي لېبرالانو له انده بین المللي او اقتصادي چاپیریال چې په ډېر ښه اوعالی ډول جوړشوي دی،د بین المللی شتمنی او ځواک په وېش کې بین المللی سازمانونه مهم نقش لري،په ټولیز ډول د نوي لیبرالیزم برخه د بین المللی سازمانونود مطالعې په برخه کې پر بین المللی همکاریو او طرحو په ټنګار لېبرالان استدلال کوي،چې د دولتونوترمنځ دهمکارۍ له امله یو لړ ستونزې به یې را کمې او پرځینو مسایلو به بریا ومومي،ځکه په بین المللي نظام کې هېڅ ډول ځواک وجود نه لري،چې د ځینو شخړو رامنځته کیدا په صورت کې اجباري عمل وکړي. (امله وال،۱۳۹۷ هـ ش،مخ۴۴)

په دغه مبحث کې به د عضوه هېوادونو د اهدافو ترڅنګ د عضوه هېوادونو لنډه پیژندنه هم وکړو.

## لومړی جز روسیه او بریکس

د روسیی هېواد چې د اسیا په لویه وچه کې موقعیت لري، په ټوله نړۍ کې د جغرافې له پلوه په لومړی درجه کې قرارلري،د نفتو یوه غنی هېواد دی، له ۱۴ اسیایی او اروپایی هیوادونوسره سرحد لري،پلازمینه یې د مسکو

---

[۱۱] https://guides.loc.gov/brics/articles-reports۲۰۲۲/۱۰/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاردی،۱۴۵ میلیونه نفوس لري، په لومړی او دوهم نړیوال جنګونو کې یې مهم رول درلود.اوسني ریس جمهور یې ولادي میرپوتین دی او له ۲۰۱۲ څخه په قدرت کې دی.د حکومت ډول جمهوري نیمه ریاستي دی،د ۲۰۱۹ م کال د احصایې له ۱.٦۳۸ تریلیونه ډالره ناخالص تولید وه .

د روسیې اهداف په بریکس کې د شوري اتحاد له تجزیې څخه وروسته روسیه له اقتصادی مشکیلاتو سره لاس او ګریوان شوه،د داخلي تولید له اړخه روسیه په بدترین وضیعت کې قرار درلود،د روسیې رقابت له اروپایانوسره او نړیوال اقتصادي فشار پر روسیې یوه لسیزه دوام وکړ،خو بریکس په ایجاد سره روسیې ځان په یو نوي ځای کې ولیده،روسیه وتوانیدله چې دغه مشکیلات په تدریج سره یو طرفه کړي،او پر نړیوال تجارت خاصه توجه وساتي،دا په داسې حال کې ده چې روسیه خامو موادو،نفتي ذخایر،ګاز،معدن او د ټکنالوچې په قوت لرلو،همدارنګه په اقتصادی،فني،او تجارتي قوت سره ځان په نړیوال بازار کې تثبت کړي.[12]

## دوهم جز برازیل او بریکس

برازیل د جنوبی امریکا تر ټولو لوی او ګڼ نفوسه هېواد دی،پلازمینه یې برازیلیا ده، د ملګرو ملتونو د ۲۰۱۵ م کال د راپور له مخې ۱۸۲ میلیونه نفوس خو د تازه احصایې له مخې ۲۱۰ میلیونه نفوس لري،د حکومت ډول یې فدرال جمهوري او فعلي ریس جمهور جایربولسونارو دی،د زراعتی ځمکو،د اوږدو ځنګلونو،د طبعي منابعو او د بشري قوی په لرلو د جنوبي امریکا تر ټولو پیاوړی هېواد دی، د ۲۰۲۰ م کال د معلوماتو په اساس ۲۲۵ میلیارده ډالره واردات او ۱۷۷ میلیارده ډالره صادرات درلودل.

۳۰ کاله وړاندې برازیل د نړۍ په سطحه د بې روزګاره هېوادونو د جملې څخه وه،خو اوس د نړۍ اووم اقتصادي قدرت شمېرل کیږي،د برازیل د برنامې له مخې د اقتصادی فساد او اداري فساد پر وړاندې مبارېزه په اولیت کې قرار لاره.

د داخلي تولید څخه ملاتړ، تولیدي او زراعتی برخو کې مرستې هغه کارونه و چې برازیل یې د بریکس سره یوځای کړو،فعلا برازیل د زراعت ، صنعت،فني،او مهندسی له لحاظه یو قوي هېواد دی،او توانیدلی دی چې ځان ته د بریکس په قالب کې ځای پیدا کړي.[15]

## دریم جزهندوستان او بریکس

هند یا هندوستان چې د اسیا براعظم په جنوب کې واقع دی،پلازمینه یې نوي ډیلی دی،د نفوسو په لحاظ په نړۍ کې دویم او د جغرافیې په لحاظ اووم ځای لري،د نړۍ په سطحه د ډیرو ګرځندویانو په قطار کې ځای

---

[12] (www.britannica.com)۲۰۲۲/۱۰/۱۸_

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري،هند په ډیمکراسی کې په نړیواله سطحه شهرت لري،د هند اقتصاد په نړیواله سطحه څلورم ځای لري، حکومت فدرالی شکل لري،ناخالص تولید یې ۲،۵۹۰ تریلیونه کیږي،اوسني لومړی وزیر یې نارېندا مودی دی،هند له بریکس سره په یوځای والی ښې نتجې په لاس راوړی،فعلا د ټکنالوجي په برخه کې د یوه نوي قدرت د ظهور په حال کې دی.[۱۳]

## څلورم جز چین او بریکس

چین هېواد چې جمهوری خلق چین یې رسمي نوم دی،د نفوسو له لحاظه د نړی په سطحه اوله درجه کې قرار لري، د جغرافې له اړخه په څلورم ځای کې مقام لري، پایتخت یې پکن (بیجینګ) ښار دی، ستر تجارتی ښار یې د شانګهای ښار دی،د یادونې ده چې د بریکس بانک(NDB) هم همدلته ده.

د حکومت ډول یې یوحزبی سوسیالست دی،فعلی ولسمشر یې شی جین پینګ دی،د نړۍ په سطحه دوهم اقتصادی څواک شمېرل کیږي،له امریکا وروسته په دوهمه درجه دفاعی بودیجه لري، چین د هانګ کانګ،تایوان او په کور دننه د ایغوریانو مسلو سره مخامخ دی ،امریکا او اروپا کوشش کوي چې د چین نوي پرمختګ مدیریت کړي،چین د نویو مارکیټونو په لټه کې ده.[۱٤]

## پنځم جز جنوبي افریقا او بریکس

جنوبي افریقا چې د افریقا لوی وچې په جنوب کې موقیعت لري، پایتخت یې کیپ ټاون دی،۲۰۱۱م کال د سر شمېرنې له مخی یې نفوس ۵۱ میلیونه د ۲۰۱۹ له مخی ۵۹ میلیونو ته رسیږي،۲۰۲۰م کال له مخي یې ناخالص تولید ۸۳۳ میلیارده اټکل شوي وو،جنوبی افریقا په د سرو زرو ذخایر لري،۲۸ فیصده د سرو زرو صادرات د نړۍ تشکیلوي،اوسني مشر یې سیریل راماپوسا دی،په فعلی شرایطو کې جنوبی افریقا کوشش کوي چې د ملي منافعو،ناخالص داخلي تولید،او اقتصادي رشد ته پراختیا ورکړي،جنوبي افریقا وروستي غړی د بریکس دی،جنوبي افریقا د بریکس سره تر یوځای کیدو وروسته ښې نتجې ترلاسه کړي، د داخلي سرمایه ګذاري،د ناخالص ملي تولید پراختیا،نړیوالو صادراتو مدیریت،د لاسته راوړنو په توګه یاده ولی شو.[۱٥]

---

[۱۳] (https://www.eligasht.com)

[۱٤] (https://www.mgairan.com/web/articles/)

[۱٥] (https://www.golbargtravel.com۲۰۲۲/۱۰/۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## بریکس او نړۍ

دریم څپرکی چې د دغه منوګراف وروستي څپرکی دی، د بریکس پر اهمیت،بریکس او اوکراین جګړه د بریکس پر وړاندې خنډونه،د نویو غړیو په جذب،پایله،وړاندیزونو،او اخذ لیکونو تر پوښښ لاندې راولي.

دا چې روسیه په بریکس یې یو پیاوړی هېواد دی،ترڅنګ یې د امنت شورا دایمي غړي دی،نو په څلورم مبحث کې مو د عمومي اسمبلۍ سره په مفصل شکل څېړلی دی.

د بریکس عضوه هېوادونو د زیاتو اقتصادي،بشري،طبعي،فني،او تخصوصي منابعو په لرلو سره د زیات اهمت وړ دي،د بریکس اتحاد د اهمیت موارد مو دلته په ماده وار شکل ذکر کړي دي.

### لومړي مبحث:د بریکس اهمیت

- د بریکس عضوه هېوادونه په مجموعو کې د نړۍ څلوېښت په سلو کې د نفوس په درلودلو،یو په څلورو د ملي ناخالص تولید په لرلو،او د نړۍ د یو په دریو د جغرافي په تشکیلولو سره د نړۍ یو مهم بلاک شمیرل کیږي.
- د نړۍ په سطحه د پنځو لویو فوځونو د جملې څخه دري یې د بریکس د عضوه هېوادونو دي.
- د امت شورا د پنځو دایمې غړو د جملې څخه دوه یې د بریکس پوري ارتباط لري.
- د نړۍ د اتو اټومې وسله لرونکو هېوادونو د جملې څخه درې یې د بریکس غړي مملکتونه دي.
- همدارنګه پریمانه مسلکی بشري قوه،لوی ذخایر،په کم مصرف زیات تولید نور هغه موارد دي،چې د بریکس اهمیت یې نور زیات کړي دی.
- بریکس هېوادونه د نړۍ له مهم ترینو د کالیوتولید کوونکو،خدماتو،او د خامو موادو په لرلو سره په نړیوال ستېج کې د ښه حیثیت څخه برخورداره دي.[(١٦)-(١٧)]

---

[١٦] (https://paydarymelli.ir/fa/news

[١٧] https://www.bbc.com/persian٢٠٢٢/١٠/٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۵) په عکس کې د عضوه هیوادونو یوه یوه مهمه ځانګړنه په سره خط کې تاو شوي

## دویم مبحث: بریکس اوس ولي دومره مهم ده ؟

په فطري لحاظ انسانان په دی لټه کې دي چې خپلې ګټې او منافي په اساني تعريف او په درست شکل خوندي کړي،د بېلګې په ډول (هانس مورګنتا)[18] چې پخوانی لیکوال او د نظر خاوند دی،د انسان په رابطه داسې نظر ارایه کوي.

**هانس مورګنتا:** (د انسانان په طبعي لحاظ غواړي پر نورو باندې ځواک(قدرت) اعمال وکړې او ځواکمن ځواکونه هم د انسانانو لخوا رهبري کيږې له همدې امله ده،چې دولتونه غواړي پرخپلو سيالانو او نور دولتونو لوړتيا او نفوذ ولري).نو د بريکس اتحاد چې د پياوړو هېوادنو لخوا رهبری کيږې هم د خپلو منافود ښه تامين لپاره ډير کارکوي،مثلا تازه اقدام کې چين د شمالي کوريا د ستايلو ترڅنګ د دوه اړخيزو همکاريو پر تقويه غږيدلي دي. .(امله وال،۱۳۹۷ ه ش ،مخ ۳۹)

اوس به د بريکس اتحاد د تازه مهم والي موارد په ماده وارشکل ذکر کړو.

- د روسيې او چين سره د غرب لانجه پر روسيي او چين بنديزونه چې په وروستو لسيزو کې د هېڅ وخت په پرتله دومره پراخ نه و.
- د ايران اسلامي جمهوريت سياست(د شرق په لوری ګرځيدل) په قوت کې ادامه لری.
- د بريکس اتحاد ۱۴ غونډې چې په (۲۰۲۲-۶-۲۳) تاريخ ترسره شوه،دوه ورځې وروسته G7[19] يوه لويه (۶۰۰ ميليارده ډالري) سرمايه ګذارې برنامه اعلان کړه،په مقابل د چين د يوې لارې اويوکمربند د پروژې.[20]

---

[18] ۱-هانس يواخيم مورګنتا(۱۹۰۴-۱۹۸۰) الماني اصله امريکايي د نړيوالو اړيکو متخصص او د رياليزم مکتب له يو نوم وتو څيرو څخه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مبحث:بریکس او پر واړندې یې خنډونه

بیروت کې د امریکایي پوهنتون مشر Edvard Said ویلي چې بریکس د پالیسیو لامله په اقتصادي او سیاسي برخه محدودیتونه لري. بریکس متبادله ایډیالوژي نه لري او په دې ډول د دوي د ناټو او متحده ایالاتو امریکا برتري نشي چیلنج کولای.

د بریکس اتحاد پر وړاندې یو شمیر داخلي او خارجي خنډونه شتون لري،چې په لاندې ډول ځیني یادونه کوو.

- د بریکس د غړیو هېوادونو مخلتف سیاسي رژیمونه او تر څنګ یې مختلف اقتصادي سیستمونه.
- د هند او چین ترمنځ اختلاف.
- د غرب له مالي او تجارتي سیستمونو سره تنش او مباریزه.
- د چین لخوا ۴۱ سلنه سهمیې غوښتنه د دوی ترمنځ نابرابري رامنځته کړې ده.

همدارنګه ده یادولو وړ ده چې د بریکس پر وړاندې د اروپایي اتحادیه،G۷،د امریکاه متحده ایالات ، د پیسو نړیوال صندق[۱]( I M F)نړیوال بانک[۲] (W B)هم وخت ناوخت په تقابل کې واقع کیږې.[۲۱]

## څلورم مبحث: بریکس او د اوکراین جګړه

(۲۰۲۲-۲-۲۴) هغه تاریخ وه چې د دویم نړیوال څخه وروسته په اروپا کې تر ټولو د لوی جنګ( لا داوام لري) د پیل ورځ چې د روسیې ولسمشر ولادي میر پوتین په نیمه شپه په ملي تیلویزون راښکاره شوه او پر اوکراین یې د حملې د پیل خبر ورکړ،د اوکراین د دفاع وزارت د معلوماتو په اساس ۲۰۰ زره روسیي ځواکونو چې هوایی ملاتړ یې هم درلود د اوکراین په خاوره تیري وکړ.

فعلا د اوکراین پر جنګ نږدي اته میاشتې تیریږي،دواړو خواوو ته په زرګونو ملکي او نظامي اشخاص وژل شوي دي،او پراخ مالي زیانونه یې رسولي دي، د دې ترڅنګ یې ډیر منفي اثر هم ښندلي دی،د اولیه موادو بیعي ورسره ډیږې لوړې شوي دي، اروپا انرژی سکتور ته یې هم لویه ضربه رسیدلې ده، بلخوا د روسیې سره د

---

[۱۹] ۲- نړۍ په سطحه د اوو اقتصادي قدرتونو یو اتحاد دی،هغه هېوادونه عبارت له (کاناډا،فرانسه،جرمني،اټالیا،جاپان،انګلیستان،او د امریکا متحده ایالات ).

[۲۰] https://www.bbc.com/persian۲۰۲۲/۱۰/۲۰

[۲۱] I M F ( International Monetary Fund ) د پیسو نړیوال صندق دی ۱۹۴۴ م ایجاد شوي دی،مرکز یې په امریکاه واشنټن ډی سي کې دی،په نړیوالو پولي مسایلو باندې نظارت لري. ( https://infobrics.org )

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریکس د هېوادونو ملاتړ چې د روسیې مورال یې اوچت ساتلي دی،د اوکراین سره د G7 مستقیمې مرستې چې د روسیې د تقابل څه نا څه تعادل یې ساتلي دی، د اوکراین د جنگ په اړه د ملګرو ملتونو په عمومې اسمبلی کې دوه ځله رایی ګیري وشوه چې د بریکس اتحاد رول په څرګند ډول تر سترګو کیږي،په لاندې ډول یې واضح کوو.[22]

د اوکراین جنګ هغه وخت نوي پړاوو ته داخل شو،کله چې د روسیې ولسمشر ولادي میر پوتین د اوکراین ختیځ څلور ایالاتونه (لوهانسک،دونیځک،خرځون،زپوریژیا) د یوې ټوله پوښتنې څخه وروسته د روسیې هېواد د برخې په توګه اعلان کړې،په دغو مراسیمو کې چې په مسکو کې ترتیب شوي وه،د دغو څلورو ایالاتونو والیانو هم برخه اخستې وه.

له دغو تحولاتو وروسته جنګ هغه وخت یو بل پړاوو ته داخل شو کله چې اوکراین د کریما او روسیې ترمنځ په یواځني پول حمله وکړه، او پرهغه یې اکمالات د یو څه وخت لپاره ځنډني کړل، په ځواب کې روسیې پر کیف ښار د توغندیو قوی بریدونه وکړل، پرون ورځ(۲۰۲۲-۱۰-۱۷) د روسیې لخوا پر کیف ښار د ځان مرګو ډرون الوتکو پر مټ تازه او بې سابقه عملیات وکړل.[23]

| د ملګرو ملتونو په عمومې اسمبله کې د روسیې د حملې په اړه لومړي رایه ګیري(۲۰۲۲-۳-۲) | |
|---|---|
| د روسیې په ضد رایه | ۱۴۱ هېوادونو رایه وکاروله چې ډیر رول د G7 په خاص ډول دامریکا د متحده ایالاتو وه. |
| د روسیې په ملاتړ رایه | ۵ هېوادونو رایه وکاروله سوریې،شمالي کوریا،ایتریا،بیلاروس،او خپله روسیې. |
| ممتنع رایه(د رایو له کارولو ډډه کول) | ۳۵ هېوادونو ممتنع رایه وکاروله چین،هند،برازیل،جنوبی افریقا(عضوه بریکس) د دې ترڅنګ ایران،پاکستان،سعودي عربستان،کویټ...... |
| د ملګرو ملتونو په عمومې اسمبله کې د روسیې د حملې په اړه دوهمه رایه ګیري(۲۰۲۲-۱۰-۱۲) | |
| د روسیې په ضد رایه | دا ځل هم ۱۴۳هېوادونو رایه وکاروله چې ډیر رول د G7 په خاص ډول دامریکا د متحده ایالاتو وه . |
| د روسیې په ملاتړ رایه | ۵ هېوادونو رایه وکاروله سوریې،شمالي کوریا،دا ځل نیکاراګوا،بیلاروس،او خپله روسیې. |
| ممتنع رایه(د رایو له کارولو ډډه کول) | ۳۵ هېوادونو ممتنع رایه وکاروله چین،هند،برازیل،جنوبی افریقا(عضوه بریکس) د دې ترڅنګ ایران،پاکستان،سعودي عربستان،کویټ،اندونیزا،مالیزیا..... |

[22] نړیوال بانک ۱۹۴۵ ایجاد شوي دی،واشنټن ډی سي کې یې مرکز دی،دا هم پولې مسایل تر بحث.

https://amp.dw.com/ps/%D٩٪BE%D٩٪٨٧-ww.google.com&amp_tf=From٪٢٠٪٢٥

[23] لاندې نیسې،له فقر څخه خلاصون یې شعار دی،۱۹۰ هېوادونه پکې غړیتوب لري،له کمزو هېواونو سره مرستې هم په پام کې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(۵) دملګرو متونو د عمومي اسمبلۍ مقر نیویارک امریکا




(٦) د اوکراین په وړاندي د روسیې یرغل ته د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ رایې ګري په حال کې

## پنځم مبحث: بریکس او نوي غړي

په اوسنيو ورځو کې د بریکس سره د نويو هېوادونو د یوځایوالي خبري یو نوي پړاوو ته داخله شوي دي، بریکس د وروستي اجلاس (۲۳-٦-۲۰۲۲) څخه وروسته په روسیه کې د چین سفیر ژانګ هانوي( Zhang Hanhui د سپوتنیګ(Sputnik) خبري اژانس سره په خبرو کې وویل چې دیارلسو هېوادونو ورته په بریکس کې د غړیتوب وړاندېزونه کړي دي.

د تسنيم نړیوال  خبري اژانس د راپور له مخي چې د تاس خبري اژانس څخه په نقل  د روسیي د بهرنیو چارو وزارت ویاندۍ ماریا زاخارووا اعلان کړه ،چې ایران او ارجینټاین په رسمي ډول په بریکس کې د غړیتوب غوښتونکي شوي دي،د روسیي ولسمشر ولادي میر پوتین د ایران غوښتنه په رسمي ډول منلي ده،همدارنګه (۲-۸-۲۰۲۲) تاریخ د چین د بهرینو چارو وزارت ویاند (ژایو لیجیان)وروسته له دی چې ایران او ارجینټاین په رسمي ډول د غړیتوب غوښتونکی شول وویل پکن له خپلو شریکانو سره د ایران او ارجینټاین د الحاق دو په رابطه خپله همکاري زیاته کړي،په ځواب کې د ایران د بهرینو چارو وزارت ویاند (سعید خطیب زاده) بریکس کې د ایران پر ګډون او د ایران د جمهور ریس (ایت الله ریسي) پر سفر خبري غونډې ته وویل «ایران د بهرینو چارو وزیر امیر عبداللهیان د ایران رسمي وړاندیز بریکس ته لیږلي دی،د چین ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهور زموږ د هېواد ريس جهمور ته په غونډه کې د ګډون بلنه رالیږلې ده،له دي مخکې هم د چین د بهرینو چارو وزیر د خپل ایرانی سیال سره په خبرو کې د ایران د ولسمشر د ګډون په خاطر مننه کړي وه».(۲٤)

دبریکس وروستي غونډه ډیر د اهمیت څخه برخمنه وه،چې یو څو نقطو ته یې په لاندې ډول اشاره کوو.

- ❖ په لومړي ځل د بریکس غیرعضوه هېوادونو په غونډه کې ګډون وکړ(د ایران جمهور ریس تر څنګ،د سعودي عربستان،متحده اماراتو،کویټ،قزاقستان،تایلینډ،مصر، ارجنټاین،او سنګال )د بهرینو چارو وزیرانو ته هم دعوت ورکړل شوي وو.
- ❖ د روسیې او د غرب ترمنځ .
- ❖ د اوکراین جګړه او په نړۍ یې اقتصادي اغیزې.
- ❖ د ځینو هېوادونو د غرب سره په روابطو کې منفي اغیزې لکه مصر،ترکیه،سعودي
- ❖ عربستان،الجزایر،متحده امارات.(۲۵)

د بریکس په وروستي غونډه کې چې د چین په کوربتوب په ویډیویی شکل ترسره شوه، د ایران ریس جهمور(ایت الله سید ابراهیم ریسي) هم ورته دعوت شوي و،د یادونه وړ ده چې اول ځل لپاره بریکس غیري عضوه هېوادونو ته په غونډه کې د ګډون اجازه ورکړه.

دا چې ولې د نورو هېوادونو د خارجه چارو وزیرانو ته بلنه ورکړل شوي وه،او د ایران ریس جمهور ته زما په نظر ممکن د بریکس سره ایران په نږدي وخت کې یوځای شي،خو یو څنګه چې معلومدار تر سترګو کیږې هغه د نویو غړیو په رابطه د قواعدو او مقرراتو نه شتون دی،د روسیې د ولسمشر د سیاسي چارو مشاور (یوری اوشاکوف) په یوه خبري غونډه کې د دي خبري یادونه وکړه،چې د مسکو چارواکی د بریکس پراختیا ته له مثبت اړخه ګوري،البته د دي پیشنهاد کوو چې د نویو غړیو د الحاق په صورت کې لومړي باید یوه تګلاره موجوده وي،د ولسمشر پوتین سیاسي سلاکار زیاته کړه چې اصلی نقطه دا ده چې د بریکس د احتمالی پراختیا په صورت کې باید قوانین جوړ شي،له هغه وروسته نامزد والی په نظر کې ونیول شي، اوشاکوف زیاته کړه،چې د نویو غړیو منل نه تنها په روسیې پوري، بلکی په ټولو شریکانو پوري اړه لري،د دي خبري یادونه یې هم وکړه چې مسکو انتظار باسي چې له اسیایی،افریقا،او جنوبي امریکاه هېوادونه د بریکس په قالب کې سره همکاري ولرو.

---

۲٤- https://af.sputniknews.com/amp/۲۰۲۲۰۸۲۰

۲٥ https://www.globaltimes.cn/page/۲۰۲۲۰٥/۱۲٦٦۲۰۲.shtml

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه د روسيي د خارجه چارو وزارت معاوين (سرگی ریایکوف) له راشاټوډی سره په خبرو کې وویل«د بریکس غړي هېوادونه د نړیوال نوي نظام له اصلی ستنو څخه شمیرل کیږي»،د زیاته کړه چې د بریکس غړي په دی قادردي چې د غرب غیري قانوني او یو طرفه سیاست پر وړاندې مقابله وکړي.[۲۶] [۲۷]

## لومړي جز: بریکس او ایران

د ایران جمهور ریس په لومړي سر کې د چین ولسمشر ته د کوربتوب مبارکې ورکړه، ترڅنگ یې د چین څخه مننه وکړه چې د ده هېواد ته یې په دغه ناسته کې د گډون بلنه ورکړي ده .

د ایران د بهرینو چارو وزارت ویاند د جولای په شپږمه نیټه اعلان وکړچې د اسلامي جمهوریت حکومت د بریکس په نامه مخ په ودي اقتصادونو په ډله کي د غړیتوب غوښتنه کړې ده.

د ایران د بهرینو چارو وزارت ویاند زیاته کړه« بریکس یو نوښتگر میکانیزم دی،چې مختلف ابعاد لري،او د نړۍ د ناخالصو تولیداتو ۳۰ سلنه او د نړۍ ۴۰ سلنه نفوس په دغه ساحه کې تعریف شوي دی، دایران د بهرینو چارو وزیر هند په لیک د دغه هېواد ملاتر هیله کړې ده.

## دوهم جز: ارجنټاین او بریکس

د بریکس اتحاد وروستي غونډه ډیره مهمه وه،ځکه چې نړۍ له یو ډول نظامي او اقتصادي مشکیلاتو کې ایساره ده.

د ارجنټاین ولسمشر (البرټو فرنانذر) د بریکس سره د هېواد د یوځای والي خبره مطره کړه،سپوټنیک د راپور له مخې ۲۴-۶-۲-۲۲ د ارجنټاین ولسمشر اعلان وکړ،چې هېواد یې په دغه اتحاده کې د غړیتوب هیله لري.

د ارجنټاین ولسمشر دا هم وویل« موږ غواړو چې د دي ډلې بشپړ غړیتوب ولرو،موږ نه یواځې د خوراکي توکو تولید او صادرولو وړتیا لرو،موږ کولای شو خدمتونه او د متخصصینو روزنه هم وکړو.[۲۶]

## دریم جز: څومره هېوادونه غواړي چې په بریکس کې غړیتوب واخلي

په اوسنیو حالاتو کې بریکس وضعیت په ښه توگه څرگند ده،نو هېوادونه هم کوشش کوي چې خپل مفاد خوندي کړي،په حاضر وخت کې ډیر د امریکاه دوست هیوادونه په دي لټه کې دي،چې بریکس کې غړیتوب واخلي.

ایران،ارجنټاین،مصر،اندونیزا،کمبودیا،قزاقستان،مالیزا،سینیگال،تایلینډ،ازبکستان،فیجي،سعودیعربستان،متحده امارات.[۲۷]

---

[۲۶] https://spnfa.ir/۲۰۲۲۰۶۲٤/html
(۲۷) [۲۷] http://irdiplomacy.ir/fa/news/۲۰۱۲۸۷۱/

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

دا چې په ننۍ عرصې او متمدنه نړۍ کې په یواځې ډول ژوند کول ناممکن او ناشونی دی افراد مجبور دي چې د خپل ژوند د بقاء په خاطر په یوه ټولنه کې اووسیږي ترڅو خپل ژوند ته ادامه ورکړي، نو همدارنګه دولتونه هم په یواځې ځان سره نشي کوالی چې خپل پایښت او بقاء ته دوام ورکړي نو دولتونه مجبور دي چې نورو دولتونو سره تړون او معاهدات ترسره کړي، او بین المللي اتحادونه (سازمانونه ) منځته راوړي کوم چې د هغه ټولنو څخه عبارت دي چې په هغې کې د مختلفو هېوادونو استازي اشتراک لري او د ټاکلو اهدافو او مقاصدو لپاره کار کوي چې دغه اهداف یې ټاکلي او دایمي دي.

چې نن ورځ په نړۍ کې مختلف نړیوال اتحادونه (سازمانونه) موجود دي چې په بیلا بیلو برخو کې د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي. چې ددغو اتحادونو(سازمانونو) د جملې څخه یو هم د بریکس سازمان دی، چې د نړۍ د دریو وچو څخه پنځه پیاوړي اقتصاد لرونکی هېوادونه پکې راټول شویدي.

بریکس (برازیل،روسیه،هندوستان،چین،او جنوبي افریقا) د نومونو د لومړیو حرفونو څخه جوړ شوي،یو سیاسي او اقتصادی اتحاد دی، ۲۰۰۶ م کال کې د ملګرو ملتونو ٦١ ناستې په څنډو کې په غیرې رسمي ډول د څلورو هېوادونو(برازیل،روسیه،هندوستان،چین) د بهرینو چارو وزیرانو سره ولیدل،همدا ناسته په ۲۰۰۹ په رسمي اتحاد تبدل شو،یو کال وروسته د جنوبی افریقا په یوځای والي سره یې نوم هم بریکس شو،په دغه څېړنه کې زه دغي پایلې ته ورسیدم، چې د بریکس اتحاد چې د نړۍ یو پر دریمه برخه خاوره تشکیلوي،نږدې د نړۍ نمایي نفوس تشکلیوي،د نړۍ دیریش سلنه ناخالص ملي تولید تشکلیوي،په راتلونکې کې په یو پیاوړي او ځواکمن اتحاد بدل شي.

بریکس په خپل غمر کې ۱۴ غونډې ترسره کړې دی،چې په وروستي غونډه کې مختلفو هېوادونو ته د ګډون بلنه ورکړي وه،نو دی پایله ته رسیږم چې بریکس به په راتلونکی کې به د اتحاد څخه په یو منظم سازمان بدل شي.

بله پایله چې یو شخص ورته متوجه کیږي،هغه د غرب سره د بریکس اتحاد د مقابلې او ټکر موضوع ده،ځکه د بریکس د اهدافو څخه ځینې داسې موضوعات دي،چې مستقما د پیسو د نړیوال صندق، نړیوال بانک پر زیان دي،او نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندق بیا د غرب د نفوذ لاندې کار کوي.

یوه بله اهمه پایله دا ده چې بریکس اتحاد د نړیوال نظم د اصلاح غوښتونکی دی، مثلا اوس مهال په دولتي کچه یا د هېوادونو ترمنځ مافوق سازمان د ملګرو ملتونو سازمان دی،په ملګرو ملتونو کې بیا یوه اهمه برخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امنت شورا ده چې له ډېر صلاحت څخه برخمنه ده، په امنت شورا کې پنځه دايمې غړي(امريکا،روسيه،چين،فرانسه،انگليستان) چې د ويټو د صلاحت څخه برخمن دي،او د نړۍ پر مهمو مسايلو اغيزاو پريکړې کوي،لکه پر افغانستان،عراق،سوريه،ليبيا د قهريه قوي استعمال همدارنگه د يمن او سعودي پر اوربند، د اسرايلو او فلسطين پر سوله، د روسي او اوکراين پر جگړه،د ايران او شمالي کوريا پر هستوی پروگرامونو بنديزونه... او داسې نور هغه موضوعات دي، چې بريکس اتحاد غړی غواړي چې په شکل د اشکالو پکی دخيل وي،نو د امنت شورا په پنځو دايمي غړيو کې تغير د بريکس له هغو اهدافو څخه د چې په ترلاسه کولو سره د نړيوال نظم د اصلاح په طرف ځی.

بريکس اتحاد په دي لټه کې چې د نويو غړيو په منلو سره بريکس ته پراختيا ورکړی،د بريکس په وروستي غونډه کې د گڼ شمير غير عضوه هېوادنو گډون او د هغو هېوادونو څخه د غړيتوب غوښتنې ترلاسه کول،د دي خبري څرگند دليل دی.

د بريکس اتحاد بانک(نوي توصه بانک) چې د چين په شانهای تجارتي ښار کې موقعيت لري،د بريکس د پراختيا او د پسو نړيوال صندق او نړيوال سره د کشمکش په صورت کې به لا ډېر او وسيع شي،فعلا هم د بريکس عضوه هېوادونو څخه پرته نورو هېوادونو پکی خپلې شتمني ايښودلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه

۱ لومړي افغانستان اسلامې امارت ته وړاندیز کوم چې د بریکس اتحاد سره تعامل ته دوام ورکړي،او ورځخه وغواړي چې د افغانستان په رسمیت پیژندلو کې هم د بریکس عضوه هېوادونه او هم نور هېوادونه مرسته وکړي

۲ د افغانستان اسلامي امارت ته مې وړاندیز دی،چې د بریکس اتحاد غړیو هېوادونو سره ناستو او سفرونو ته د دوام تر څنگ هغوي د افغانستان د کانونو او د اوبو پر مدیریت پانگې اچوني ته راوبولي.

۳ د افغان دولت ته یې مې وړاندیز ده،چې کوشش وکړي،د بریکس اتحاد غړیو هېوادونو ته د افغان تحصیل کرده ځوانانو به استولو سره په بیلابیلو برخو کې په خاص ډول سره ټکنالوجي،زراعت،د اوبو مدیریت،د هغوي څخه متخصصین جوړ گړي او یا حد اقل د بریکس د عضوه هېوادونو متخصصیونو ته په هېواد کې د شرایطو به برابرولو سره دلته جذب کړي،او خپل د هېواد ځوان کدرونه پري په افغاني او اسلامي ماحول کې وروزي.

۴ بریکس اتحاد ته مې وړاندیز دی چې له خپل منځي اختلاف څخه لاس واخلي په خاص ډول سره د چین او هند اختلاف.

۵ بریکس اتحاد ته په کار دي،چې نوی توصیه بانک ته پراختیا ورکړي، د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې څانگې خلاصه کړې،او بیلابېلو هېوادونو سره پر مختلفو پروژو پانگه اچونه ورکړې.

۶ دا چې د بریکس اتحاد دوه غړي هېوادونه د ملگرو ملتونو د امنت شورا دایمي غړي دي،نو د ویټو د حق څخه په استفادي هغو پریکړو مخه ونسي چې د دویو د غړیو یا د هغو هېوادونو زیان پکی لیدل کیږې ، چې په شکل د اشکالو له دوی سره وابسطه گی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځلیکونه

۱-قران کریم.

۲ـاحادیث.

۳ـامله وال،شیرعلم(۱۳۹۷ ه ش) د نړیوالو اړیکو ارونه،مومند خپرندویه ټولنه،جلال اباد.

۴ـ بصیرت، ع نبي، او شینواری، جمال (۱۳۹۹ هـ ش )نړیوال سازمانونه، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۵ـ موسی زاده، رضا (۱۳۹۱هـ ش) نړیوال سازمانونه، ژباړن، سید نظیم سمون، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

١. https://infobrics.org
٢. www.bricsindia
٣. (https://www.bbc.com/persian/iran-features-٦١٩٥٣٧٨٥ )
٤. (https://infobrics.org- )
٥. (https://guides.loc.gov/brics/articles-reports)
٦. (www.ndb.int- )
٧. (www.noormags)
٨. (www.britannica.com)
٩. (https://www.eligasht.com-)
١٠. (https://www.mgairan.com/web/articles/)
(https://www.golbargtravel.com)
١١. https://paydarymelli.ir/fa/news)
١٢. https://infobrics.org
١٣. (https://amp.dw.com/ps/%D٩٪BE%D٩٪٨٧ )
www.google.com&amp_tf=From٪٢٠٪٢٥)
١٤. (https://news.un.org/en/story/٢٠٢٢/٠٤/١١١٥٧٨٢
١٥. DA%AF%D٨٪B١٪- https://af.sputniknews.com/amp/٢٠٢٢٠٨٢٠/%)
١٦. (https://www.globaltimes.cn/page/٢٠٢٢٠٥/١٢٦٦٢٠٢.shtml)
١٧. https://spnfa.ir/٢٠٢٢٠٦٢٤/%D٨٪A٢٪D٨٪B١٪DA٪٩٨٪D٨٪A٧٪D٩٪٨٦٪D٨A)-%DB٪٨C%D٩١١٣٣٥٠٢٧.html

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**